کابل

پر له پسی گڼه (۴۹۲)

۷

غنی

دمحکوم پښتونستان شاعر

نن دامن او امان په شنه چمن کښی
هره خوا وینم رمی دشنو لیوانو

کومی ځالی چه پرون وی د بازانو
نن قبضه د . په هغو د ټپو سانو

کوم کبین چه اخلاص منو مچو جوړوه
و خوړ هغه داغراض خوشو مچانو

کوم گلان می چه سائل د زړه په وینو
نن ترې ډکی دی ځولی د گوګټانو

نن دامن او امان په شنه چمن کښی
هره خوا وینم رمې دشنو لیوانو

د اغضب نه دی نو څه دی چه په باغ کښی
اغزی اخلی عصمتو نه د گلانو

چه یې زړونه د نفاق په رنگ خچن وی
رهزنان ښه دی له هغو رهبرانو

هغه شمع بله مه شه په ټول عمر
چه خپه وی ترې نه زړه د پتنگانو

د چمن په هر یو بوټی چه مین وی
زه آرزو لرم د هغو باغبانانو

عقاب بیا غواړی موسی له غنی خدایه
خلك تنگ دی د فرعون له نائبانو

کابل

د پښتو ټولنې میاشتنۍ خپرونه

لله (۱۳۳۹ ش) کال د (۱۳۸۰ ق) کال د (۱۹۶۰ ع) کال د سپټمبر او اکتوبر

امتیاز	د پښتو ټولنې
د پښتو ټولنې مشر	گل پاچا الفت
مسئول مدیر	محمد حسن کاکړ
د تیلیفون لمبر	۲۱۲۹۱
پته	کابل افغانستان نادر پښتون واټ

په دې ګڼې کښې

شمېر	لیک	لیکوال	مخ
۱	پښتونستان یو ضرورت دی	میرا کبر	۱
۲	د پښتونستان مشاعره	د معاصرو شعراوو	۸
۳	په امریکی کښې د پښتو نوی مرکز	کاکړ	۳۸
٤	معاصر افغانی ادب	تبزی	٤۲
٥	د تاریخ په باره کښې	کاکړ	٥۳
٦	د افغانستان کالنۍ	اداره	٥۸
۷	د معلم د ورځې په مناسبت	الفت	٥۹

کالنی اشتراک

په کابل کښې ۳۲ افغانۍ

د هېواد په نورو برخو کښې ۳٦ افغانۍ

د معارف زده کوونکوته نیمه به

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږی

میر اکبر

پښتونستان یو ضرورت دی



دمقالې ایکونکی او دمجاې قلمی مرستیال

دهیګل په دیالکتیک کښی یوه مهمه کلیه ده چه وایی «هر واقعیت معقول او هر معقولیت یو واقعیت دی» خو وروستنیو دیالکتیک پوهانو دغه کلیه رده کړی ده دوی وایی: هر واقعیت معقول کیدلاې نه شی. ډیر داسی شیان شته چه واقعی دی مګر معقول نه دی مثلاً استعماری نظام یو واقعیت واودی خو هیڅکله یی معقول بللی نشو. د دې کلیی دتکمیل د پاره وروسته د ضرورت پر نسیپ وایستل شو. په دی ترتیب چه هر واقعیت په هغه وخت کښی معقول کیدای شی چه په عین زمان کښی ضروری او مترقی وی. مثلا د آسیا او افریقا نیشنلزم «د ملیت غوښتنی حس» یو واقعیت دی. په عین زمان

کښی معقول هم دی ځکه چه هغه نظر استعمار ته یو مترقی او دهغه په ضد نهضت دی داجتماعی تحولاتو په جریان کښی هره مترقی مرحله نسبت پخوانۍ مرحلی ته یوه معقوله مرحله وی. ضروری هم وی. ځکه چه د اجتماعی تحولاتو دتسریع او داستعمار دمغلوبولو دپاره او بیا داجتماعی تحولاتو په سلسلی کښی یوی عالی مرحلی ته درسیدو دپاره دنیشنلزم دمرحلی تیرول که حتمی نه دی نو ضروری خودی.

اوس به موږ دپښتونستان نهضت دپورتنۍ کلیی په رڼا کښی وڅیړو. لومړی - دپښتونستان د ملیت غوښتنی نهضت یا په بل عبارت دپښتونستان نشنلزم یو واقعیت دی. ځکه چه دپښتون په نامه یو ولس موجود دی د ځکی په یوه معینه سیمه کښی ژوند کوی. دپښتون ولس دملی خپلواکۍ دمبارزو او د پښتنو د عظمت په نامه په تاریخ کښی یو ځلانده فصل موجود دی. هر کله چه پښتنو له دغو دری گونو عنصرونو څخه یوه (واکمنی) بایللی ده نو دهغه د بیرته لاس ته راوستلو د پاره د پښتونستان په نامه دیو نهضت شروع کول یو معقول کار هم دی. ځکه چه د پښتونستان سیمه دلویی پښتونخوا له اصلی وجود څخه په داسی غیر عادلانه شرایطو سره بیله کړه شوه چه هیڅ قانونی او حقوقی نسبت یی نه درلود.

هغه تړونونه چه په دې باره کښی شوی دی هغه دحاکم او محکوم - غالب او مغلوب او په پای کښی د جابر او مجبور تر منځ و و هیڅ تړون په داسی حال کښی حقوقی ماهیت نه لري. دهند دویش په وخت کښی کرمه دنامه رای گیری چه وشوه هغه د سلف ډیترمنیشن SELF-DETERMINATION له اصولو څخه ډیره مخالفه او لري ده ځکه په دې رایه گیری کښی پښتنو او باوڅو ته ااختیار نه وور کړی شوی چه لکه څنگه چه بی غوښتی وی هغسی خپل سونوشت وټاکی. هغوی ته صرف داچانس ور کړشوی وچه یا به هندوستان منی یا پاکستان.

دسلف ډیترمنیشن (دسرنوشت د تعیین حق) له اصل سره سم باید پښتنو ته دااختیار ور کړشوی وای چه خپل مقدرات له خپلی خوښی سره سم په هندوستان - پاکستان - پښتونستان یا افغانستان پورې تړی یا په کوم بل حیث. دافغانستان ذکر له دې کبله حتمی وچه دوینی پښتونستان په نامه چه موږ کومی سیمی پیژنو هغه دډیرو ظالمانه تړونو په اساس له افغانستان څخه جلاشوی دی پښتانه افغانستان خپل مرکز بولی او په دې مرکز باندی را تولیدل د هر پښتانه دزړه ارزو او حق دی بله داچه د پښتونستان دخپلواکۍ نهضت له دې کبله هم یو واقعیت او معقول دی چه دضرورت له اصل سره سم یو ضرورت دی اوس به موږ دغه ضرورت د افغانستان او پښتونستان دپاره له اقتصادی او سیاسی نظر څخه ترڅیړنی لاندی و نیسو.

د پښتونو د پاره د پښتونستان اقتصادي ضرورت

دا تر ټولو څرګنده خبره ده چه د یوه محکوم ولس ټول اقتصادي منابع د حاکم دولت په لاس کښې وي. اقتصادي استثمار د استعمار اصلي هدف دی. مسلط حکومت له تسلط لاندې ولس سره د نورو تبعیضي پالیسیو په لړ کښې د اقتصادي تبعیض پالیسي هم چلوي د مسلط دولت اقتصادي سیاست داوي چه د اقتصادي انکشاف سرعت په مسلط او تسلط لاندې هیواد کښې په موازي ډول سیرونکړي که چیري د انګلستان د دوه سوه کلن تسلط په موده کښې د انګلستان او هندوستان اقتصادي انکشاف تر منځ یو مناسبت ټینګ کړو په ډیر وضاحت سره زمونږ د پورتني ادعا ثبوت کوي. هندوستان له خپلو ټولو اقتصادي منابعو او انساني بې ساري قدرت سره بیا هم د نړۍ له ډیرو بیرته پاته هیواد وڅخه دی او اقتصادي مسئلې یې ټولو ته څرګندې دي.

پښتونستان هم چه په برتانوي هندپوري جبراً تړل شوي و په عین شرایطو کښې واقع دی د پښتونستان د بلوچستان ولایت او د پښتنو داسې نوري محکومي او نیمه محکومي علاقې سره له ټولو امکاناتو د نړۍ له ډیرو بیرته پاته سیمو څخه حسابیږي.

د نوي استعمار د یارلس کلن تسلط په دوران کښې عین حال دی د پښتونستان د اقتصادي منابعو ګټه نظر پښتنو ته د پاکستان په جیب کښې لویږي. د دې ادعا د اثبات شواهد ډیر زیات دي مثلاً دورسك د بریښناستیشن په پښتونستان کښې واقع دی خو ګټه یې پنجاب ته رسیږي او د پنجابیانو کورونه پرې، رڼا کیږي، کارخانې یې پرې چلیږي او داسې په سلګو نو نور کارونه ور څخه اخیستل کیږي. په مقابل کښې ګورو چه د پنجاب له خوا پښتونستان ته څه شي راځي. په پنجاب کښې جوړ شوي ټکران او نور مصنوعات چه هغه هم او مه مواد یې د پښتونستان له سیمې څخه په ډیره ارزانه بیه پیرودل کیږي او په مصنوع شکل بیرته په پښتنو خرڅیږي خو په ګران قیمت.

د پښتونستان سیمه د پنجاب سند او بنګال د مصنوعاتو لوی بازار دی د پنجاب او بنګال بانګې په پښتونستان کښې په استعماري شرایطو سره په کار لویږي او ټولې کارخانې د پنجابیانو په سرمایو جوړې شوي دي. کارګران یې د هند مهاجرین دي. که چیري په دغو کارخانو کښې چه د پښتونستان په سیمو کښې جوړې شوي دي د سرمایه ګذاري فیصدي د کارګرو د شمیر فیصدي د پښتون او غیر پښتون له حیثه تر کتنې لاندې ونیسو - زموږ دا ادعا به په ښه شان ثابته شي چه په پښتونستان کښې د نورو تبعیضونو په لړ کښې د اقتصادي تبعیض پالیسي په ډیر وضاحت سره چلیږي څو کاله پخوا چه په پاکستان کښې تش د نامه

فیډرالی نظام (FEDERAL SYSTEM) وتریوی اندازی پوری ځینی ساده خلك پدی غولیدلی وو چه په پاکستان کښی دفیډرالی جمهوریت هره صوبه ځان ته بودجه لری او په هغی صوبی کښی خرڅیږی او د بودجی کسرونه د مرکزی حکومت له خوا پوره کیږی. خودا څو کاله شوه چه فیډرالی نظام ختم دی او په ځای یی دیوه یونټ پروژه جاری شوی چه د هغی په اساس وړی صوبی په لویو صوبو وو تړلی شوی او هغه نیمګړی مالی استقلال چه په یوه فیډرالی نظام کښی هری صوبی ته ورکړی شوی و بیرته سلب شو او پدی صورت دوړو صوبو استثماریو قانونی شکل غوره کړ. پخوا به یوشی له صوبه سرحد څخه پنجاب پاسنده ته وړل کیده نو نوم به پری دصوبه سرحد شو او س هرشی دمغربی پاکستان مال دی.

دورسك بجلی (برښنا) دمردان دبوری کار خانه ټول دصوبه سرحد شمال غربی مال او په همدی نامه به نورو ورڅخه کټه کوله. خو اوس دمغربی پاکستان مال شو او د مغربی پاکستان په هغوسیمو کښی ورڅخه کار اخیستل کیږی چه له صوبه سرحد نه ډیر په مخ ـ او غیر پښتانه دی.

پخواهم په صوبه سرحد شمال مغربی او بلوچستان « پښتونستان » کښی داستعماری تسلط له بر کته دمځکو په برخه کښی د جایګیر داری یا زمینداری « LANDLOROISM » سیستم برقرار و او د پښتنو اکثریت بی ځمکی وو د څو تنو ټولی ځمکی جایګیردارو په قبضه کښی وی. د پاکستان مارشل لایی نظام د ځمکو د اصلاحاتو پروګرام پلاس کښی ونیو ددی په ځای چه په دی اصلاحاتو کښی زیاتی ځمکی په بی ځمکو پښتنو ویشلی شی د هندوستان د پناه غوښتونکو سیلاب مخ په پښتونستان راوخوځیداو د پښتنو زمینداروځمکی ورته ورکړی شوی په دی ډول زیات شمیر پښتانه بی کاره او بی روزګاره پاته شول چه اوس د پاکستان له عسکری ملازمت نه په برته بله لار نه لری.

په سیاسی لحاظ د پښتنو د پاره د پښتونستان ضرورت

دا یو مسلم او منل شوی حقیقت دی چه که یو ولس سیاسی خپلواکی نه لری او د بل تر اسارت لاندی ژوند کوی د هغه ټول مادی او معنوی استعدادونه به نه یوازی د مسلط نظام په کټه وی بلکه هغه ټول به ورته د ځان بلا اولوی تکلیف وی. مال به دده وی خو اختیار به بی دبل. څه چه بی زړه غواړی هغه به کولی نه شی او څه چه بی زړه نه غواړی هغه به پری کیږی. زحمت او کړاو به دده وی خو کټه به بې دنورو. د پښتنو ماضی او حال ته چه یو نظر واچول شی دوه دوری په نظر راځی. لومړی هغه دوره چه پښتنو خپلواکی لرله

اودسیاسی استقلال خاوندان وو. نه یوازی یی په خپل هیواد کښی ستر مدنیتونه مینځ ته راوړل بلکه دلویو متصرفاتو خاوندان شوی هم وو. د غوریانو امپراطوران د سوریانو شهنشاهی د غزنویانو او ابدالیانو د عظمت لوړی دوری د هرچا په یاد دی.

خوکله چه د خپلواکی نعمت د پښتنوله لاسه لاړ نه یوازی یی خپل عظمت بایللی دی بلکه دنورو تر لاس لاندی او دنورو دلاس اله شوی هم دی. په پښتنو باندی د اسارت دوه دوری راغلی دی: د کلاسیک بادانګریز د استثمار په دوره کښی دهر ملحوظ دپاره چه و لومړی پښتانه جبراً له خپل اصلی مرکز څخه جلا کړل شول جلاشوی سیمی داستعماری ګټو دپاره په دریو برخو ووېشلی شوی چه یوی ته داداری سیمی بلی ته دنیمه اداری سیمی (ADMINISTERED AREAS) (SEMI ADIMINISTERED AREAS) او دریمی ته دازاد و قبیلو یا قبیلوی سیمو (TRIBAL AREAS) نوم ور کړی و.

بلوچستان جلاصوبه شوه دهری برخی ترمنځ ویشونه او پولی جوړی شوی.

پدی ډول پښتنونه یوازی خپل مرکزیت بایلو د بلکه په خپلو کښی سره ټوټی ټوټی شول. خوزړو استعمار یو نو داونه کړل چه دپښتنو یوه لویشت خاوره په سند یا پنجاب پوری وتړی البته دپښتنی ثقافت د پاره یی هیڅ ونه کړل.

دپښتنو دپاره یو صوبایی حکومت او صوبایی پارلمان موجود و. دپښتو ورځپاڼی او مجلی دپښتنی ثقافت دژوندی ساتلو دپاره موجودی وی. دپښتنو دپاره دسیاسی فعالیت ازادی موجوده وه دپښتنو ګوندونه او ډلی موجودی وی. پښتون پښتون واو پنجابی پنجابی. ددی کوشش نه کیده چه تورسپین کاندی یا سپین تور. کوم شی چه نه وهغه دپښتنو سیاسی او ملی خپلواکی وه خوداوسنی تازه پاکستانی استعمار په دوره کښی پښتانه رخپل ټول موجودیت دامحاله خطرسره مخامخ دی.

نن دیو یونټ ترپلان لاندی دپښتنو ارضی موجودیت دختمولو دپاره دهغوی خاوره په سند او پنجاب پوری وتړله شوه دهغوی د سیاسی موجودیت دختمولو دپاره د هغوی صوبایی حکومت صوبایی پارلمان او ټول سیاسی ګوندونه ړنګ او غیرقانونی اعلان شول. دپښتنو دثقافتی موجودیت دامحا دپاره دپښتنو دملی ژبی پښتو په ځای اردو او بنګالی د دوی رسمی او ملی ژبی اعلان شوی چه په اجباری ډول تطبیقیږی په پښتو خپرونو باندی ډول ډول بندیزونه او قیود وضع کیږی.

د «مونږ مسلمانان یو نه عرب او نه افغان» ترشعار لاندی داهڅه کیږی چه په پښتنو کښی دپښتونولی او دملیت او داستعمار په ضد احساسات

وروژنی . پښتانه د اسلام په نامه د خپلو سولو غوښتونکو او گاونډیو دوستانو په مقابل کښې د جهاد فی سبیل الله او نعرهٔ تکبیر په نامه استعمال کړی .

ترټولو خطرناکه خبره خوداده چه د پښتنو سیمه نه یواځې د پاکستان امپریالزم پاملرنه ځانته راگرځولی بلکه له بده مرغه د هغوی خاوره د عمومی ډول د بین المللی امپریالزم په مرکز بدله شوی ده .

د دی خبری خطرنه یوازې د پښتنو د ملیت غوښتنی نهضت ته متوجه دی بلکه د پښتنو د ټولو گاونډیو هیوادو سلامتیا ته هم لوی لوی مصیبتونه دی د پښتنو په خاوره په لویدیځ پاکستان کښې د خارجی امپریالستی هیوادو ستری نظامی اډی جوړی شوی دی د پښتنو علاوه د گاونډیو هیوادو په مقابل کښې د ټولو نظامی تربو ، سیاسی د سایسو او د جاسوسی فعالیتونو د مرکز په شان استعمالیږی . د پیښور له میدانو څخه د امریکایی یو - ۲ ډوله جاسوسی الوتکی الوتنه زموږ د دې ادعا ژوندی ثبوت دې .

د پښتونستان د موضوع ضرورت له اقتصادی پلوه د افغانستان د پاره

که چیری پښتونستان تر بواستعماری تسلط لاندی وی او د پښتنو د خپلواکی موضوع په معقول او عادلانه ډول حل نشی طبیعی ده چه د پښتون ملت او د مسلط استعماری نظام تر منځ به شخړی او مجادلې خپلواکی ته ترسیدو وری .

دوام کوی په افغانستان کښې چه د هر حکومت او هره ډله برسر اقتدار وی په هیڅ صورت د ځینو ټینگو ثقافتی او تاریخی علایقو له کبله له دې موضوع څخه بی علاقی کیدای نه شی . په هره اندازه چه افغانستان په دې موضوع کښې دلچسپی اخلی طبعاً به له بواستعماری عکس العمل سره مخامخ شی . د دې عکس العمل سیاسی اړخونه به پریږدو . استعماری عکس العمل معمولاً د اقتصادی محاصری په شکل وی د افغانستان په وارداتی شیانو باندی به د درانه ټکسونه زد ی او د افغانستان د اقتصادی بیلانس د خرابولو د پاره به د ډول ډول اقتصادی او تجارتی نیرنگونه او دسیسی جوړیږی افغانستان د خپل اقتصادی انکشاف د پاره آزاد او تجارتی لارې ته اړ دی د دی اړتیا وو د لری کولو د پاره د وه لارې موجودې دې یا دا چه افغانستان په خپله بحر ته لار د ولری یا خو بر خپل گاونډیتوب کښې یو داسی دوست هیواد ولری چه د هغه گټه د افغانستان گټه وی او د افغانستان گټه د هغه گټه وی .

یو د بل د گټو ساتندوی او یو د بل د پرمختگ ممد او مویدوی او یا خو په بل عبارت د یوه انکشاف او پرمختگ د بل د انکشاف او پرمختگ شرط وی .

د افغانستان د پاره پرته له پښتونستان څخه بل هیڅ څرك داسی نیك گاونډی کیدلای نه شی او نه د پښتونستان د پاره پرته له افغانستان نه بل هیواد داسی نیك گاونډی کیدلای شی .

د افغانستان د پاره د پښتونستان سیاسی ضرورت

اقتصادیو بنسټ دی چه سیاسی، اجتماعی، ثقافتی حقوقی، قانونی اخلاقی او ټولی ذهنی موسسی پرې بنا دی د هر هیواد اقتصادی وضع د هغه هیواد سیاسی او ثقافتی، اخلاقی او حقیقی اوضاع تعینوی لکه څرنګه چه موله اقتصادی پلوه د پښتونستان د موضوع د حل څرنګوالی د افغانستان د اقتصادی پرابلمونو د حل د څرنګوالی سره تړلی باله له سیاسی نظر څخه د پښتونستان د موضوع حل د افغانستان په سیاسی وضع باندی نیغه اغیزه لری.

که چیری د پښتونستان موضوع د عصری ایجاباتو او پرنسیپونو له مخو د پښتنو له غوښتنو سره سم حل شی لکه څنګه چه به اقتصاداً افغانستان په آزاده ساه وباسی او د نورو له قید او بند څخه به خلاص شی له سیاسی لحاظه به هم خپل آزاد سیاست له خپلو ګټو سره سم تعقیبولای شی. هیڅ کله به افغانستان د نورو د سیاسی او اقتصادی ګټو د ساتلو د پاره د یو پهره دار او حایل دولت BUFFER-STATE په شکل نه استعمالیږی.

په پای کښی د افغانستان د سیاسی استحکام او نظم د پاره د پښتونستان د موضوع حل یو حتمی او ضروری کار دی.

د پښتونستان سیاسی محکومیت د افغانستان سیاسی استقلال ته ستره صدمه ده. تر څو چه پښتانه خپل بشپړ سیاسی استقلال ترلاسه نه کړی د افغانستان خپلواکی به په یوه پښه وی.

د پورتنیو ملاحظاتو په رڼا کښی داویلای شو چه ـ: د پښتونستان نهضت یو خالص نیشنلستی د استعمار په ضد نهضت او یو ضرورت دی د یوه نیشنلستی نهضت ملاتړ او په یوه استعماری ضد نهضت کښی برخه اخیستل د هر ملی او مترقی افغان ملی او بین المللی وظیفه ده. هره ناغیړی چه پدی برخه کښی کیږی نه یوازی به د امپریالزم او ارتجاع په ګټه وی بلکه د هر اصلاحی پروګرام د عملی کولو او د هر مترقی اجتماعی نهضت د پرمخ بیولو په لاره کښی به لوی لوی خنډونه پیدا کړی.

پای

د پښتونستان مشاعره

سبز کال بیا دسنبلی په نهم ماشام د پښتونستان د ولسی په ویاړ یا کابل رادیو کښی یوه درنه مشاعره وشوه. مشاعره د پښتو ټولنی په بلنه دافغانستان د پښتو شاعرانو له خواوه. چاپ یی دی گټی ته لکه ولنبول شو، چه هغه وخت: مجلی لومړی مخونه چاپ شوی وو. دا دی اوس یی په دی گڼه کښی لوستونکو ته وړاندی کوو. برسیره پردی د دی درانه تقریب یه رناوی: مشاعری په سر کښی یوه پخه مقاله هم خپروو. «ا ارد»

ښاغلی خادم د پښتو ټولنی له خوا

ښاغلو حاضرینو او گرانو اوریدونکو!

نن د پښتونستان د آزادی د حصول د یادگیرنی ورځ ده. داهغه ورځ ده چه په دی کښی د پښتونستان غیور ملت د خپلی آزادی د حصول د پاره تر آخره پوری د مجاد ل قطعی پریکړه کړیده. په دی یادگیرنه کښی د دغی پریکړی تجلیل او ټولو افرادو ته دهغی ور په زړه کول مراد نی اددی ارمان د سرته رسولو د پاره د ۲۰ میلونه جامعی هر فرد د خپل مسئولیت په اندازه ځان پر گڼی!

په دی لیاره کښی چه پښتونخوا او افغانستان شاعرانو اولیکوالو ته کومه ذمه واری ور په غاړه ده - هغه دا ده چه خپل قلمی جهاد به ترهغو جاری ساتی چه څو ظلم قانعشی او عدالت ته تن ور کړی. له دی سببه له څه مودی څخه دا د بو ملی سنت په شان جاری پاتی شویده چه د پښتونستان د آزادی د حصول د یادگیرنی په مناسبت هر کال په همدغه تاریخ یوه لویه مشاعره کیږی. دا مشاعره یو داسی ملی رنگ لری چه هر شاعر او لیکوال پکښی افتخار گډون کوی - او خپل خوږه او درانه افکار اهدا کوی.

زه د پښتو ټولنی لخوا د دغو ټولو محترمو او ښاغلو شاعرانو همکاری او ملگرتیا ستایم - او د دوی د ملت پرستی او حریت غوښتنه د ساهو حس لمانځنه کوم.

زمونږ ډیر عزتمن میلمانه هم گډون لری.

دادی اوس داوی شپیتن په نامه او داوی پښتون په ارمان د دی اوی او درنی مشاعری افتتاح کوم.

غلام جیلانی «جلالی»

دیره پښتونستانی اوآز

نه د مرگی سوران هوښیار کړم نه اړتیا د ژوندون
نه څه اثر کا په ماستر بدلون د نن او پرون

نه څه بیزار له کاهلی شوم وی خو هسی جنون
نه یی راویښ کړم لو یو پیښونه د عصر بدلون

منفی اغیزه کا پر ما، پند د حکمتی افلاطون
چه دا ټم په ډزو نه شوم له غفلته راستون

څه چی جوړ شوی څه علت لری دا څه دی افسون ؟؟
مرگ دې که خوب دی نه پوهیږم په دا سی ناخون !؟

گوندی ویښیږم به د هغه سخت طوفان په زلی
چه شرنگ هار می شی ترغوږ داسرافیل دشپیلی

څوك چه خپل کور بیرا نه وی بل ته انگړ جوړ وی
خپل ته بادار پر دې ته ځان غلام نوکر جوړ وی

بوړی په لاس کښی خپل تر بره لره سنگر جوړ وی
ښکلی یوسف غوندې ورور پلورې پرې محشر جوړ وی

په څو نا چلو پر دی جنگ ته ځان عسکر جوړ وی
هر یو پر دی ته هم بی سوچه ځوان لښکر جوړ وی

په لږ خخله و مرگ ته خپل ټټر جوړ وی
تر گړ نگو غور ځی ویل ته؛ ځانته شر جوړ وی

هغه کم یم بخت یم چه تمیز د خیر او شر نه لرم
پیغور هنر گنم دا ځکه بل هنر نه لرم

هغه مرغان چه د آزاد جهان پیغام نه وینی
لرو بر وینی هر پلو خپل غولی بام نه وینی

گهیځ د بل په وزرا لوزی ما ښام نه وینی
په غبر گو وړ وندشی د صیاد لومه ابرام نه وینی

سرد فریب په وندر بند خپل سرانجام نه وینی
زهرو لړلی دا نه وینی مگر دام نه وینی
جهان پخپله جام جم دې خو دې جام نه وینی
تل دوجدان سجل ته گورې خپل الزام نه وینی
روکیه! څو به بو په داسی بدژوندون مبتلا
په ضعف د عقل هم د فکر په جنون مبتلا
په دغه لاره د زور گیر و قافلی تیری شوی
هم له چنگیزه ترانگریزه هنگامی تیری شوی
په بورو ورارو کونډو مونډو غلبلی تیری شوی
پریتیمانو مظومانو شوگیری تیری شوی
په وږیو تبزیور نخورانو تلوسی تیری شوی
د استعمار لوټ او غارت لوبی نخری تیری شوی
په وینو لژنده ډگرونه سری لمبی تیری شوی
خو پښتون یو کام ترشانه شوور ځی شپی تیری شوی
هرڅه چه وشوه هرڅه کیږی دا به هم تیریږی
خوښه په ښو او بد په بد و شامدام یادیږی
په لومړی ورځ وویل پښتون پښتونستان غواړم
له پردی وا که ځانته واک ځانته سامان غواړم
دهر پښتون له پاره هم حق دانسان غواړم
هرڅوک پخپل کور کښی بسیا په خپل عنوان غواړم
په اسلامی برهان حقوق د مسلمان غواړم
آزاد ژوندون غواړم نه هند نه پاکستان غواړم
څو چه دنیاوی خپل وطن او خپل فرمان غواړم
په ډانگ پییلی وایم بیا پښتونستان غواړم
ترڅو چه تور مرغان سپین نه شی ملت نه بدلیږی
پښتون پښتون دی زمونږ قومی ماهیت نه بدلیږی

پرڅه له دیره تر باو څو ظلم و زور دی روان
دمار شل لاد لاسه ربړ کور په کور دی روان
پرڅه په هر پښتون هر ځای لګول تور دی روان
نفاق بیلتون د بو او بل غلط هر لور دی روان
په غرو رغو ماتو میرو کښی شو رماشو ردی روان
په پښتنو د استعمار غوبل بل اور دی روان
په جیلخانو کښی پر پښتون قیدی ترهوردی روان
څوك چه پښتون پاکستانی بولی پیغور دی روان
ای د کنډك کنډك د بهیر پاتی حیران خاونده
دظلمه بچ کړی دالوټ شوی ورك کاروان خاونده
پاکه خاوند ستا په لاس دی واړه خیر او شر
داهغه کام دی چه شعار لری الله اکبر
د دوی پر توره شو روښانه شریعت د سرور
ستا د توحید په لیار کښی هر ځای دوی ښندلی خپل سر
اسلام خپور کړی په اخلاقو دې ټبر لر و بر
ستا د ښمنان لری په یاد زمونږ جهاد اکبر
د آزادۍ په هوډ به ساتی تر محشره خیبر
خدایه له خو به ژر راویښ کړی داپیاوړی ټبر
استعمار څه غواړی په دې گوټ کښی سورا ورلګول
دځان په ور که ناپوهان د فتنی شور لګول

گل پاچا الفت

له خدایه سره

خاونده تا په انسانانو کښې قومونه کړه جوړ تا قبیلې شعبې تپې او ملتونه کړه جوړ
د ترک عرب افغان په نوم دې ولسونه کړه جوړ تا له مرغانو د هوا بیل بیل سیلونه کړه جوړ

ځکه کوترې نه ګډیږي کله زانو سره
بلبلې نکړي پرواز و نه له کار غانو سره

په هر هیواد کښې دي پیدا کړله بل شانته هوا حد و د معلوم د دي عالم په غروسیندونو کړه تا
هر یو ملت دي په بل شان بل خوی بل رنګ کړ پیدا ځینې دې تور ځینې دي سپین څوک دي کړه هغه څوک دا

د هر قام زړه کښې دي د خپل قام محبت کیښو ده
تا په فطرت کښې د انسان ملي وحدت کیښو ده

د خپل پر دي تمیز په خټه د انسان کښې وینم دغه شعور دغه احساس په ټول جهان کښې وینم
په اسرائیلو دلسوزي ابن عمران کښې وینم یا لیت قومي یعلمون ستا په قرآن کښې وینم

چه تا خپل کړي هغه څوک پر دي کولی نه شي
د عزیزانو مینه زړو نه څوک ایستلی نه شي

قام جوړول د قام پالنه ستا سنت ګڼمه دا تقاضا د طبیعت او د فطرت ګڼمه
ستا له طرفه اغیزه د قومیت ګڼمه مینه د قام د انسانانو خاصیت ګڼمه

ځکه فرعون سره موسی جګړي جنګونه کړي
د قام د پاره ډیر و خلکو ډیر کارونه کړي

قامونه دي بیل بیل فصلونه د خلقت د کتاب ده هره نوعه او هر جنس لکه یو فصل او باب
په هر تصنیف په هر تالیف کښې وي فصول او ابواب د دي د پاره پیدا شو یدي فرقي احزاب

خدایه ستا صنع ستا سنت په دغه شان وینمه
چه څوک ترکان او څوک عرب او څوک افغان وینمه

قومی صبغه ده ستاله خوا کله تغییر قبلوی کله یو قوم دبل قوم ځان باندی تاثیر قبلوی
هر څوك خپل فکر خپله رأیه خپل تدبیر قبلوی هر قام له خپل قامه وزیر او خپل امیر قبلوی
دقام پهژبه تا هر قام ته پیغمبر ولیږ ه
له خپله قامه دی هر قام لره رهبر ولیږه
که پښتانه هر څومره لری پښتنونه اوسی که پهزر گونو میلو لری دوی هغونه اوسی
که هغه خواله هسکو غرو او دریابونه اوسی زړوته نژدی دی که غایب له نظرونه اوسی
نشته په شرع کښی حجاب له خپل محرمه ځنی
ستر پهکار دی له پردی اونا محرمه ځنـی
په لندهار کښی که میرویس او احمدشاه بابادی پهپښور کښی خوشال خان او احمد شاه بابا دی
بو شان ښکاریږی پښتنو ته که هغه که دادی چه ابا سیندا با سیند بو لی ددوی یوا بادی
ورور که په کوکه په لاهو روی پردی کیږی کله
په لر یتوب د قرابت سلسله شـکیږی کـله
دی ظلمان چه پښتانه له پښتنو بیلوی ورونه له ورونو او لادونه له پلرو بیلوی
چړی را اخلی او قطری زمونږ له زړو بیلوی مومند ـ مومند نه اپریدی له اپریدو بیلوی
یو اپریدی دی په خیبر که په تیرا کښی اوسی
مومند مومند دی پیښور که سالالا کښی اوسی

قیام الله بن خادم

افغانی ترانه

په زړه دایشیا کښې یو لال دبد خشان یم
افغان یمه افغان یم ـ افغان یمه افغا ن یم

روغ شوی په عمرونو یوخ شوی په عمر و نو
په منځ د کوهستان کښې لوی شوی په عمرونو

تاریخ ته د قومونو پخپله زه داستا ن یم
افغا ن یمه افغان یم ـ افغان یمه ا فغا ن یم

د نیا شوه منو ره زما له کو هستا ن نه
نړی شوه بهره و ره له دی باغ و بو ستا نه

اوچت له ټولی ځمکی په بام د دی جها ن یم
افغان یمه افغان یم ـ افغان یمه ـ افغا ن یم

قـومـو نه د د نیا ټـول بـدل او رابدل شول
په ژو نده کښې د هرمیده میده او دل شول

دا زه یم چه عمرونه ژ وندی په یـوشا ن یـم
افغا ن یمه افغا ن یم ـ افغان یمـه ا فغا ن یـم

بابل او نینوا تـه زمـا او رو نـه لا ړل
اتن ځنی رو ما ته زمـا فـکـر و نه لا ړل

په توره او میرا نه ښکا ره په ټول جها ن یـم
افغان یمه ـ افغان یم ـ افغان یمه ـ افغا ن یم

د فکرا نقلاب مـا را و ړی دی جهـان تـه
بر یښنا د سپینی تو ری می تللی د ه اسما ن ته

د هر ظلـم په مخکښې د عـد ل نگهبـا ن یـم
افغا ن یمه ا فغا ن یم ـ افغا ن یمه ـ افغان یم

را سخ می ملیت د ی محکم می قـومیت د ی
د ښمن می تل شړلی له خا و ر ی په غیرت دی

ثا بت په یوه حا ل یم زه قطب د ا سما ن یم
افغا ن یمه افغا ن یم ـ افغا ن یمه افغا ن یم

سلیمان لایق

دزمانی شتاب

تـک چه له شتاب دزمانی سره همرازنه وی
ژرند کنبی چه دردونه نه وی سوزنه وی گدازنه وی
چیری چه میلان پورته اسمان ته دپرواز نه وی
چاسره چه لارنه وی انجام نه وی اغاز نه وی
داسی یوه فضا کنبی دخپل ځان خاوری کول خوشی
دردخوشی آرزوخوشی دفکر خوځول خوشی

پام کوه پښتونه چه نړی په خوځید لو ده
لرو برکړی دغلامی په ماتید لو ده
نوردازادی نه بندگی په کښید لو ده
عقل دانسان ته زمانه په رپید لو ده
ته داستعمار پاړوگرانو غولو لـی یـی
واک بی درنه وړی په نطفه کښی بی وژلی بی

ای گرانه پښتونه ته ماضی او مستقبل لری
بهنده تاریخ سره جهان ته راوتل لری
پام کوه بیدار شه چه په مخکښی لامزل لری
حق ثابتول لری دتورو خوځول لری
ستاژبه هیواد او بیل تاریخ واقعیت لری
ستا ادب او دود ځانته وجود او حریت لری

ځوان لره چه ننگ لری دسرفدا کول شه دی
توری دپښتون ته دکړ بو ماتول شه دی
دقل او تدبیر ته دکامونو خوځول شه دی
خلکو ولسونو ته دغرونو لړزول شه دی
سر که چیری سروی خونشان دافتخار دې وی
ننگ دې وی غیرت دې وی دتورو ښه یاد دار دې وی

ته ځنگه زغمی شی چه مربی شی له پښتو سره
خرڅ شی له ولس او له تاریخ او له زانگو سره
بیله خپله لارکړې له پلرو او له نیکو سره
نه نه داسی نه ده ته پښتون یی له پښتو سره
ستا په غرو کښی نغښتی زمانی غټ قوتونه دی
ستا له خمیرې سره اخښلی طوفانونه دی

دوست شینواری

مارشل لاو پښتونستانی

لکه دلوبی میرې گل چیرته د کانو مینځ کښی
نه له بلبل سره اشنایم نه ملیار پیژنم

په تنهایی کښی ثم بیدا په تنهایی کښی خزان
نه د چمن نه یم خبرا و نه گلزار پیژنم

وینو کښی ډوب په زړه داغلی د لاله پشانی
نه آب او تاب د ژوند انه او نه بهار پیژنم

سوزم ایره شم خدای خبرد کوم زړه سوز به وی دا
د زړه په تاو کښی نه خوږ لن او نه انگار پیژنم

نه یم خبر چه څه به شم او څه به کیږی په ما
د زمانی تودی سړی تولی تیر یږی په ما

لکه د ور کوشا پولارو مسافرو غوندې
نه یم خبر چه چیرته ځم په کومه لاره ځمه

خو لکه ځنگ د زړه ورو طوفانو په مخ کښی
د بل په امر وارا ده د بل د پاره ځمه

لکه د تللی قافلی نه چه ایرې پاتی وی
د باد په مخ کښی په کمرو او په هواره ځمه

هم لکه گل خوږ و تر خو د زمانی ته خاندم
هم لکه بوی هسی پریشانه له گلزاره ځمه

لا به تر څو وی زندگی می په اختیار د پردو
د تمام عمر شپی او ورځی په دربار د پردو

لکه تنکی غوندې غوټی د کوم ماشوم په لاس کښی
په بی قدری شی پاڼه پاڼه خزان خاوروته ځی

لکه سرې اوښکی دیتیم یاد نیمزالی کونډې
په سپیره مخ او په شکیدلی گریوان خاوروته ځی

لکه د خاورو وی ارزانی ورته نه گوری څوک
دیوه همدرد دتش نظر په ارمان خاوروته ځی

یا لکه ډیری ازروګانی دشهید په زړه کښی
دزړه تابوت کښی ورسره په یوشان خاوروته ځی
مارشال لاغواړی چه همدغسی پښتون خاورې کا
دپښتنودا په غمو کړ ژوندون خاورې کا
په مخ څپیړې را کوی او په خوله لاس راته زدی
وایی دردونه زړه کښی زغمه اوغوغامه کوه
که بی قانونه جیلخانی وی که پانسی وی خوهم
ټول روابوله اعتراض په مار شال لامه کوه
که زور وروې په سرلوبی دچنګیز غوندې کړی
ورنه پوښتنه دروا او ناروامه کوه
که دی بادار دوطن خاوره په بل چا خرڅوی
په دواړو ستر ګویی منه په کښی پروامه کوه
ملګرو! ګوری دغه حال دژړیدو دی که نه
داد ذلت نه ډک ژوندون دقبلیدو دی که نه
ګورم په بخت می دسرو اوښکو په شیبو څه کوی
یا به لا به زرغونوی یا به طوفان جوړوی
لیونی مینه به می حلاص دځنځیرونه کانور
یا به په دارلکه منصورراته آشیان جوړوی
داسرافیل دشپیلی غبز په پښتونخوا کښی اورم
ګوندې قیامت دظالمانو په جهان جوړری
لا به تر څووی دا دخوف او دهیبت زندګی
لا به تر څو ظالم مظلوم ته ګورستان جوړوی
آخر به وران شی زوړ جهان او بل جهان به شی جوړ
د غیرتمنو پښتنو پښتونستان به شی جوړ

غلام رحمن جرار

دڅرك قيصه

توره تروزمۍ وه غلبلی وی دطوفان په کښی رعد و که برق و دواړه مشت او گریبان په کښی
غرق په تحری وه لاره ور که د اسمان په کښی جوړی زلزلی وی لړزیده به دا جهان په کښی
تلم د زړه په ستر گوچه اه ستر گو می له ورایه شوه
څرك د رڼا و شوچه ښکاره له یوه ځایه شوه
تلم په گړنگونو که ژوری وی که لوړی وی هیڅ پروامی نه وه که کمرونه او که تړی وی
لار یی را کوله که سیندونه او که شړی وی شوی دتو کل او ارادی په مینځ کښی تړی وی
ور غلم رڼا ته چه چا پیر ترینه ښا ماردی
لعل یی غور زولی نه ژوندی او نه مرداردی
ما د لعل په تمه له ښار ماره ډیر طواف وکړ سحر د ښا مار و ماگمان د کوه قاف وکړ
گوتوله رانه غی که ماقصد د اختطاف وکړ دغلته افسون هغه مړ ژواندی بی انصاف وکړ
لعل یی په حکمت دخپل بچی په خوله کښی کیښوده
دې په کښید و کښید و لاړ دا ځای یی پریښوده
د لته زما هیله یو په څوله بد بتره شوه توره شپه شو گیره پرما آن ترسپین سحره شوه
دغه چاره ور که هم له کوزه هم له بره شوه دا دڅرك قیصه و چه دنیا لا پری خبره شوه
وختم په لوړه دې جهان ته نغاره کوم
زه د مار بچی ته د دې لعل اشاره کوم
ای د عدالت جهانه تاسی ته اعلان کوم بل غرض می نشته لکه تاسی غم دځان کوم
لعل دې زما راکړی داخبره پر میدان کوم نور به نه ځنډیږی که د سرو وینو تاوان کوم
زه په دی جهان کښی بیا زوال د استعمار کړمه
څه وکړم نفاق دی زه یی داسی خوار او زار کړمه

عزیزالرحمن ممنون

پښتنی ننګ

د حق غوښتاو د جذبی په نامه — خیر که خوښی او یا خندا پاتی شوه
ما په ژوندون کښی نور څه نه دی غوښتی — خو تحول ته می سودا پاتی شوه
د استعمار قصابخانی کښی اشنا — د هر چا زړه کښی مدعا پاتی شوه
نور لاس په سر له دې قانون نه ځمه
د استعمار له شوا خون نه ځمه

د لوی خوشال بریښنا د تورې غواړم — د ظالمانو میندې بورې غوارم
هغه جرس چه ننګ غیرت راویښ کړی — د پښتنو زړو کښې همت راویښ کړی
دغه آرزو دغه اسره ده زما

د لوی میرویس غوندی میړانه غواړم — پښتونه دغه صفت تا نه غواړم
هغه ټپه چه بیا میوندویښ کړی — هغه نغمه چه ملی ژوندویښ کړی
دغه ارزو دغه اسره ده زما

ای دایمل ای دروښان لمسیانو — د وطن مور تاسو نه ننګ غواړی
دابدالی هډوکی ولړ زیدل — په استعمار باندې غورزنګ غواړی
دازادی بله ډیوه پښتنو — هو ټینګه مینه دپتنګ غواړی
چه شی قربان دخپل هیواد دپاره
د یو ملی تعمیر بنیاد دپاره

پخپلو وینو بیا خیبر ګلګون کړیء — بوټی دهیلو دشیرشاه زرغون کړیء
دننګ دنیا کښی دننګ غبز پورته کړیء — بیا دغلیم نه شور اوزوز پورته کړیء
دغه ارزو دغه اسره ده زما

محمد عالم اتمان

څه دې کړه هغه چه پلار او نیکه دې کړه؟؟

پښتونه خپل پښتنی نوم پښتنی شان دې څه کړ؟ هادپلرونو کارنامی عالی نښان دې څه کړ
هاپښتنی کلالی بول شهرت دځان دې څه کړ هالره بره سرلوړی هغه دوران دې څه کړ
څه دې کړو وایه هاپلرو نیکو ګټلی برم؟
کومه خوالاره هغه ستا غفلت لو ټلی برم؟

ته خو هغه بی چه روز کار به دې سلام کولو ته خو هغه چه زمانی دې احترام کولو
ته خو هغه چه ایشیا والو دې اکرام کولو ته خو هغه چه دنیا وا لو دې مدام کولو
اوس نه پوهیږم چه دا خوار په زړه زهیر بی ولی
دا سی د نورو لاس کتوی د بل اسیر بی ولی

په دې نړۍ کښی له پخوا ننګ ونام دتاو هم په میړانه میړ نتوب کښی میړه کام دتاو
دهر اقدام په مقابل کښی لومړی ګام دتاو هم د غلیم په مقابل کښی لوی قیام دتاو
اوس څرنګه بل ته جګوې لاس د سلام په توګه؟
په پردو وردنو کښی ولاړ بی د غلام په توګه

ته له خپل ورور سره بی ځایه دښمنی داسی کړې له کلی کور سره ناوړې ترګنۍ داسی کړې
ته دې پر دوغوږ وهنو ځانځانی داسی کړې ته له زوی ورور سره بدۍ او بدغونۍ داسی کړې
راشه دا پریږده هغه و کړه استقلال د پاره
د خپل نیکونو د زوړ برم او جلال د پاره

راشه خپل ښکلی تاریخونه افسانی نوې کړه ته د نیکو په لاره د رومه زمانی نوې کړه
نوی روز کار نوی بی کارشوترانی نوې کړه څه د اتمان په ملګرتوب کښی نښانی نوی کړه
نوی کړه پلان نوې نخشه هم دې روز کار نوی کړه
نوی کړه کار نوې دې چارهم دې یاد کار نوی کړه

عبدالمنان دردمند

درندانو ننداره

ستاپه زړه کښې ای خیبره سره لمبه د انقلاب ده
د ملي غیرت خبري فیصله ستا د حساب ده

تاتره چچي غاښونه د کیمورنه بریښنا تاو شوه
اباسیند له خوانه ګډه زلزله بیاپه حساب ده

کجوري او په تیرا کښې نیمکښو توري ځلیږي
اشنغر او ناګمان کښې قصه بیاد سردریاب ده

مینې وینه تخنولي د ملي غیرت ناري دي
پاریدلي احساسات درندانو ننداري دي

خوشحال خان وایي ایمل ته احمد شاه تړلي ملاده
نادر خان وانه نیولي خو ځیدلې پښتونخواده

راوتلي بیا غزا ته د جندول عمرا خان دي
باجوړ وتوښي تړلي ملکنډي باندي غزاده

اپریدي مومند وینا کړي د ملي انقلاب غږ دي
اباسیندي کوي ګواښونه لکه توره د بابا ده

د وزیر وچړي بریښي بیټني دي پاڅیدلي
بلوڅان په وینو سره شو ځکه وینې څڅیدلي

سرخاوي لاسره ځلیږي شور ماشور دي د غازیانو
اشاري کوي ځلموته سري جنډي د شهیدانو

د یووالي پیغامونه لوي پیمان د پښتونوالي
پیغلي لاس په دعا ګوري کامیابي ته د ځوانانو

تنول او په بنیر کښې بوګنیدلي دي فکرونه
په امواجو کښې روانه هنګامه د شاعرانو

پښتني غیرت به مست شي افتخار پښتونستان دي
لراوبریوه ورووي ده د دردمندو زړو اعلان دي

امان الله سیلاب

د پښتونستان زامی وائی

زه بیا محفل ته راغلم خودرد ونه راسره دی
په مات کچکول کښی خدایبزو جهانونه راسره دی
همزولو چه غلط می په ظاهره بڼه نه شیء
د زړه په نغری کښی بل ارونه راسره دی
په چو په خوله می پام کوی ملګرو تیرونه خوری
د پټو سو و څـړ یکـو طـوفانونه راسره دی
راغلی د خوشال اود رحمان له هدیری یم
زلمو ستا سو له پاره پیغامونه راسره دی
د ګرانوا و محکومو پښتنوو روڼو په غم کښی
د زړه هره پرده باندې داغونه راسره دی
پرواز می د خیالونو کهکشان ته قدم ایښی
اګرچه سوی سوی ارمانونه راسره دی
څه وشو په ظاهره که شلیدلی جامی ښکارم
بیا هم د باباګانو یادګارونه راسره دی

وطنه! یا به سر قربان کړم یا به ستا عزت اوشان وګتم
دا می وعده ده چه به خپل پښتونستان وګتم
وطنه! ستا دوږ و تبږ و په سلـګـو می قسم
ستا د یتیم ماشوم د شونډو و په پتـرو می قسم
ستا په بر بنډو ببر سر ولـیونو می قسم
سر می د وکړی چه د استا سروسامان وګټم
وعده هم داده چه به خپل پښتونستان وګټم

چه ستا په مینه کښی نادو دې په سرونو منی
ستا محبت کښی چه ژوندون تل به جیلو نو منی
داستا په عشق کښی زنگیدل چه په دارونو منی
دد وی په پاك عشق قسم چه خپل جهان و گټم
وعده همداده چه به خپل پښتو نستا ن و گټم

چه ستا دپاره مال او سر څخه دنگلی دی چا
چه ستا د پت په نوم سر و نه لو بو لی دی چا
ستا ا زادی بسی د ر دونه چه منلی د ی چا
په دوی سو گند دی چه یو ځل ملی ارمان و گټم
دامی وعده ده چه به خپل پښتو نستان و گټم

وطنه ستا په دنگو دنگو لو ړو غروسو گند
ستا د ز ر کانو د تنز ر و په نارو سو گند
ستا د پلو څو په خوږو خوږو وږموسو گند
که زه پښتون وم خو به ستاها تیر دوران و گټم
و عد ه همدا د ه چه به خپل پښتو نستان و گټم

عبد الکریم محب

د نوې ژوند سندره

د سوو زړونه سرې امبی پورته شوې
د چا د خیال جهان به وسوزوی

دې خاموشی کښی غلغلی برتې دی
دغه دوبر بیابان به وسوزوی

د سلګو تاو دا را دو ګرمی ده —
دبیوزلیء ارمان به وسوزوی

پخوانو هیلو کښی جذبی ویښې شوې
دمایوسیء دوران به وسوزوی

داور بڅرې می فریاد کښی شته دی
داستعمار کاروان به وسوزوی

دامی پیغام دی د خپل قام په نامه
د نوې لارې د امام په نامه

داد تیر بو د نیاورانه به شی
بیا د ملی ننګ به سیلاب راشی

د ژوند سندره او سیلو کښی نغښتی
د لته به نوې اب وتاب راشی

د پښتو نخوا نه تیریدلی نه شی
د چا په مونږ که هر عذاب راشی

حال او ماضی او مستقبل مو وایی
زړې پښتو ته به شباب راشی

دانا کردې مو دی ز غملی ډیرې
بیا به څه نوې انقلاب راشی

نور به موزړونو کښی ارمان نوی
د نیا به دادغم جهان نه وی

ماد پښتو د پسرلو په نامه
د نوی ژوند نوې پیغام راوړې

په پیشکشی کښی د ماضی نسل نه
ما د غیرت پښتو کلام راوړې

د احمد شاه خاور وهډو کونه می
دې نوی نسل ته سلام راوړې

د خوشال خان نه می ختکو لره
نوې وصیت د ننګ او نام راوړې

د ایلم شپون شپیلۍ ته خاندې ناڅې
وخت مو هیلو ته څه انعام راوړې

مونږه د ژوند یو بل جهان جوړوو
قام ته به ګران پښتونستان چوړوو

رقیبه واوره د پښتو فیصله
زمونږ د نوی وخت دنیا بله ده

هسی نه ستا فکر بلاشی تا ته
دلته فکرونو کښی سودا بله ده

ستا دې ناخوالو ته به وپاریږی
دژوبلو زړونو تمنا بله ده

په تقدیرونو زمونږ مه لوبیږه
دلته پیرزومو د قضا بله ده

نوردې نغمی دللو مه غږوه
پښتانه ویښ شو لوغوغا بله ده

دا اندیښنی د اسوې سوې سلګۍ
د قربانۍ لوړی استرې پاروی

هومره خوتاب لا په سرواوښکو کښی شته
دنیا کښی بیا چه غلغلی پاروی

زولنی ماتی د صبرونو شولی
جذبی به نوې ارادې پاروی

داد ایشیا د هنګامو مېنه ده
بیا به ایشیا کښی هنګامی پاروی

داد آرین دافسانو مېنه ده
بیا به د تیر وخت زمانی پاروی

داد همت او د غیرت خاوره ده
داد پښتو او شجاعت خاوره ده

نصرالله حافظ

داوطن د پښتنو دی

چه ړند یبزی ورته سترگی دبد خوا و وله حسرته
چه رپیبزی ترینه زړونه په گوگل کښی له هیبته
چه خبر تری هرغلیم دی اوړ سرونه ورته ښکته
که په ډیر قوت کښی راشی دلته ور که شی تری پته
پسر لی د رنگینی او دا چمن د پښتنو دی
دا وطن د پښتنو دی دا وطن د پښتنو دی

☆ ☆ ☆

مات کودړی یی لالونه ترینه جار د بل ملکو نه
د جنت مثال یی گوره شنی جلگی ارت میدانونه
ښه زماد پلار کوډی ده ورك شه ورك پردی قصرونه
مشک عنبر یې توری خاوری ترې لوگی د بل عطرونر
په کښی شه خوږی وږمی دی جوړ ختن د پښتنو دی
دا وطن د پښتنو دی دا وطن د پښتنو دی

☆ ☆ ☆

توری تړی دنگی غاړی فکر او خیال په کښی ور کیبزی
جوړ دوهم د مرغانو پر او بال په کښی ور کیبزی
دا کاږه کاږه پیچومی چه مجال په کښی ور کیبزی
ښه کمال دلته غیرت دی بی کمال په کښی ور کیبزی
په دې ملك د سر سو دا ده ځکه تن د پښتنو دی
دا وطن د پښتنو دی دا وطن د پښتنو دی

☆ ☆ ☆

ددې ځمکو غرو په څو کو احمد شاه دی گرځید لی
د میرویس نیکه له لاسه گرگین د لته پرز یدلی

سکندر د لته راغلی په ارمان ترې بیر ته تللی
د چنګیز او چنګیز یـا نو سیلاب دلته بهید لی
په خپل وخت ښار او مانۍ وی اوس دمن د پښتنو دی
دا وطن د پښتنـو دی دا وطن د پښتنـو دی

☆ ☆ ☆

د خیبر په شا وخوا کښی د لته ښکلی تا تره ده
ورسره ډله غازیان دی دایمل په کښی دیره ده
دریا خان له قاره ریږ دی د غلیم بڼه سپیره ده
چه ترې لړ زی مغلوا له دخو شال توره تیره ده
داجنډی د شهیدانو دامدفن د پښتنو دی
داوطن د پښتنو دی داوطن د پښتنو دی

☆ ☆ ☆

ښکته پورته وړاندې وروسته عظمتو نه په کښی ښوری
خپل بانه ورته نشتر وی چه څوك بد دې لورته ګوری
په دې سیمه له اسمانـه د غیرت پـرښـه راا وری
د ازمو نیز د بڼ ګـلو نه بیګـا نـه وولـره اوردی
چه په بل هوس رادرومی جوړ دښمن د پښتنو دی
د اوطن د پښتنو دی د اوطن د پښتنو دی

☆ ☆ ☆

د اهوسۍ د د امانو نو په زمریا نو به یی ورنه کـړم
د اکوتری زرکی خپلی په بازانو به یې ورنه کـړم
پښتنې د څاد د ر پیڅکی په غلما نو به یی ورنه کـړم
د اغزی رامبیل چا مبیل دی په ګلا نو به یې ورنه کړم
چه غلیم په کښی او ترشی د اګلشن د پښتنو دی
د اوطن د پښتنـو دی د اوطن د پښتنـو دی

☆ ☆ ☆

ډیرو خلکو ارمانونه د دې خاوری وړی گور ته
د حیرت گوتی په خوله دی د دې تورو غرونو زور ته
دلته هسی شاه زلمی شته چه آواز کړی د ننگ پور ته
بیا یی کله دریدی شی څوك د سپینی توری شور ته
چه له سره پری تیریږی خوږ بدن د پښتنو دی
د اوطن د پښتنو دی د اوطن د پښتنو دی

☆ ☆ ☆

داز ماد پلار هډو کی دا زماد پلار مزار دی
مال می دادی آل می دادی سر زما ترځنی جار دی
ننگ می دانا موس می دادی دا جونگړی راته گلزار دی
چه دې لور ته نیت د ښکار کړی همه ښکاری په خپله ښکار دی
کور او گور دی دغه خاوری هم مامن د پښتنو دی
د اوطن د پښتنو دی د اوطن د پښتنو دی

☆ ☆ ☆

دغه جاله د پښتون ده پښتانه په کښی اوسیږی
هو دا سیمه د پښتون ده پښتانه سره جوړیږی
بس دی بس دی پښتانه نور په درواغو نه غولیږی
دغه هسی رنگ او به دی چه په ډانگ کله بیلیږی
داناري د اتفاق او دا گفتن د پښتنو دی
داوطن د پښتنو دی د اوطن د پښتنو دی

میر اجان سیال

مینه

مونږ سره مینه دقومی عزت اوشان مینه ده
د پښتنو ملی ارمان پښتونستان مینه ده

پردی وطن به مونږ څه کړو که هر څو مره ښه شی
مونږ سره ډیره دخیبر او دبولان مینه ده

ننګیالی سرځنی تیریږی آزادۍ په لار کښی
دخپلواکۍ سره فطری دهر انسان مینه ده

دمرګ اوبند ځنی پښتون ولس ډاریږی کله
دچاچه زړه کښی دزنځیر اودزندان مینه ده

هر یوزلمی دآزادۍ په لیلی سرور کوی
د جنګ ډګر سره دهر یوه افغان مینه ده

چه لرو بر پښتانه یو شی دوروری په تړون
زما په زړه کښی هم ددغه لوی ارمان مینه ده

چه پښتنو ته شو رهبر د آزادۍ د لارې
دهر پښتون سره دخپل پیر روښان مینه ده

چه پښتنو کښی بی جذبه دخپلواکۍ پیدا کړه
خودرا سره دننګیالی خان خوشحال خان مینه ده

دقام په ننګه تا تره بی په پر د یو سره کړه
مونږ سره ډیره دمردۍ دایمل خان مینه ده

په سپینه زیره چه جیلونه اوبند و نه ګالی
خودرا سره د ملی مشر صمد خان مینه ده

چه دپښتون ملی ژوندون او پښتونواله غواړی
دقام په زړه کښی د داؤد او باچاخان مینه ده

دپښتنو سرونه زار د آزادۍ په لار کښی
له خپلواکۍ سره دهر یوزاړه ځوان مینه ده

څوک خپل سرونه زاره وی دقام وطن په ناموس
چاسره بس دڅکو خوړو او دخپل ځان مینه ده

دآزادۍ په جنګ جګړه کښی می دې خدای کړی شهید
د سیال په زړه کښی د جنګونو د میدان مینه ده

عبد الله غمخور

ځان ته پښتون مه وایه

دلیلا سیال چه نه شوی ځانته مجنون مه وایه
خپله نامه کړه بدل ځانته پښتون مه وایه

د معشوقو پړونی عاشقان نه خرڅوی
دپلار نیکه هډوکی فرزندان نه خرڅوی
دننګ غیرت خاوندان قام و ځان نه خرڅوی
چه وی پښتون په رښتیا دین ایمان نه خرڅوی

په لباسی مینتوب ځانته مجنون مه وایه
چه پښتونه پیژنی ځانته پښتون مه وایه

پښتونوولی دې ولی پښتونه؟ هیره کړله
په سروجوړو کښی ناسته درخودې هیره کړله
دمورد پاکی غیبزی للودې هیره کړله
دقام عزت اوشرف ابرودې هیره کړله

تیرشه له ږې خبری ځانته مجنون مه وایه
که خوادې نه بدیبزی ځان ته پښتون مه وایه

چه د لیلا د څڼې د اوربل گل نه شې
د آزادۍ په شمع سوی جلبل نه شې
دقام دخوږو زړونو دارو درمل نه شی
له بیگانه ووجدا د خپلو خپل نه شی

زلمیه فیس نه یی ځانته مجنون مه وایه
مه اخله نوم دپښتون ځانته پښتون مه وایه

چه دو د سرونه کړی د خپل عزت د پاره
چه سره لمبه نشی ټول دننګ غیرت دپاره

بیړه و انخلی د قام شان اوشو کت دپاره
لوګی لوګی نه کړی ځان ملی وحدت د پاره
ای په خپل ځان مینه ځانته مجنون مه وایه
رښتیا رښتیا به وایو ځانته پښتون مه وایه

غلام د طمعی اسرې پښتون ګڼلی نه شی
د بل دلاندی ژوندون ژوندون ګڼلی نه شی
چه په قام نه وی مین مجنون ګڼلی نه شی
بی ابا سینده جیحون جیحون ګڼلی نه شی
چه لیلا خپله نه کړې ځانته مجنون مه وایه
چه ازادی وانه خلی ځانته پښتون مه وایه

یا کړه نامه بدله یا سرنامه کړه نوې
که په لیلا مین بی داهنګامه کړه نوې
د خپل تقدیر د پاره خپله خامه کړه نوې
د نوی ژوند په خاطر زړه جامه کړه نوې
په بی عمله مینه ځانته مجنون مه وایه
چه پت پاللی نه شی ځان ته پښتون مه وایه

محمد یونس خالص

پښتون څوك دی او څه كړی

دپښتون وینه خو توده ده سړیدلی نه شی
سړه یی مه كړې چه سړه شی تو دیدلی نه شی
په هر یو كار كښی ډیر ثبات استقامت لری تل
له خپله هوډه په خوار ورا گرځیدلی نه شی
له صداقت او عدالت سره الفت لری ډیر
د ظالمانو په مكرو نو ښوئیدلی نه شی
ځان له بی دو د ځانله دستور او ځانله ژبه لری
ځان له سړی خو د بل چا غلام كیدلی نه شی
دښمنان تل په كښی كوښښ د ځان ځانیو كوی
او به په ډانگه بیلوی خو بیلیدلی نه شی
دا یا سین نه تر آمو پوری قول یو پښتون دی
یوه هدف ته بی ده مخه تم كیدلی نه شی
دسیاست لومی به نن سبا كړی پرو كی پرو كی
نور د پیل غوږ كښی ناخبره ویدیدلی نه شی
خالصه زړه لره ډاډه بس دی نور غم مه كوه
كه پښتون كلكه كړی پښتو مغلوبیدلی نه شی

عبدالله بختانی

په گران پښتونستان می قسم

دپښتنوالی او پښتو په لوړ عنوان می قسم
هم په پښتون او هم په گران پښتونستان می قسم

دلوړو غرو په تیر وڅو کو هیبت نا کودرو
دقام په لویه حوصله او په لوړ شان می قسم

په تاتره په هندو کش په کونډ سپین غرمی دې وی
دپښتونخوا په پاکه ځمکه او آسمان می قسم

دلویو غرو لویو کورونو په او یوالی باندې
په لوی وطن په لوی پښتون او لوی افغان می قسم

دا موسیند په متانت دا باسیند په څپو
دعوا طفو احساساتو په طوفان می قسم

د ننگیالیو پتیالیو پوهیالیو په روح
په ننگ او توره او قلم دخوشحال خان می قسم

د بی گناه بندی په جرم او دشهید په مزار
دآزادۍ دارمانجنو په ارمان می قسم

په بیواکی دپښتنو پښتونستان کښی چه دی
دعدالت او آزادۍ په دې دوران می قسم

د پاك الله په مقدس ذات او صفاتو باندې
هم په صمد او په غفار-غنی- رحمان می قسم

چه غلامی نشته اسلام کښی نه په کفر کښی اوس
نه په پښتو کښی ای پښتونه په قران می قسم

که زړونه یو شوونو لاسونه به نژدی شی سره
د محبت او د یوالی په پیمان می قسم

محمد داود (شهید)

پښتنی جذبی

دا گلگون بیرغ د آزادۍ چه رپیدلی دی
غبزیی دغیرت ټولی دنیا ته رسیدلی دی
ستوری که ځلیږی په آسمان کښی اورڼا کوی
دلته د پښتون د توری شرنگ هم ځلیدلی دی
دا بیرغ چه مونږ او تاسی ټول ورته خوښی کوو
مونږ ته یې دمور په غیږ کښې ننگ غیرت ښودلی دی
حق لری پښتون چه آزادۍ پسی ملا وتړی
ژاړی به غلیم لکه چه مخکښی ژړیدلی دی
لاس د استعمار یی چه غوڅ کړی دی له دی مېنی
تن د هر پښتون ځکه په وینو لمبیدلی دی
څوك که لری مینه د وطن له آزادی سره
هسی پښتنې هسی پښتون غیږ کښی روزلی دی
خپله پا که وینه یې د ننگ په ډگر تویه کړه
ځکه مونیکه دا غیرتی نوم راگټلی دی
زه (شهید) په ډیرویاړ سره هرچیرته داوایمه
جوړ پښتونستان به شی ما خوب هسی لیدلی وی

سمسور سابی

نوې ولولی

تیره زمانه شوه رښتیا رنګ د زمانی واوښت
ماته پیمانه شوه هغه می له پیمانی واوښت

غږ واړه بدل دی اوازونه هم بدل ښکاری
لاس ومطرب بل دی هنګ او سرد ترانی واوښت

هغه کاروان تیر شود جرس اوازهم نه راځی
نوې ولولې شوې شور اوزوږد قافلی واوښت

پریولوز مانی هغه د استان هغه کیسی هسی
کرښی یی شوې تتی ماهیت د انسانی واوښت

ناست یم په حیرت کښی د فطرت دې کرشمو ته ځیر
خیال می تر پری شو د فکرونو دې څپو ته ځیر

واوښتی پیړۍ ورسره سم بدل رنګونه شول
ور که تر زمۍ شوه هره خوا بل مشاونه شول

مات شولو سکون چو په چو پتیا هم ورسره لاړه
ژوند کښی تحول راغی ژوندی نوی فکرونه شول

غږ د نوی ژوند دی چپ چاپیره په نړۍ خور
ویښ د جهالت له خوبه ټول ویده کامونه شول

الوزی هر یو نن وار په وار ګوری اسمان په لور
ځمکه بی تسخیر کړه د هوا په لور خیالونه شول

پاڅه ! ای پښتونه نن یو نوی دوران راوله
ته خو هم انسان یی یو بی ساری طوفان راوله

محمد طاهر (بینا)

د پښتونستان دعوه

نه ده دا د فرد او فردیت دعوه
نه ده دا د شخص غرض په نیت دعوه

نه ده شه په تو که د تګی سودا
نه ده د ناپاکه ذهنیت دعوه

نه ده بنا شوی هو که شوی ده
ده د پښتنو د حریت دعوه

ده د پښتنو د ژوند او مرګ کیسه
ده د مقدسه حقیقت دعوه

دا دعوه د حق د پاره شوی ده
دا ده دا تیالکه ملت دعوه

دا دعوه به حتماً فیصله غواړی
دا ده د انصاف او عدالت دعوه

مونږه د پښتون د حق تائید کوو
نه کوو د بل د اسارت دعوه

مونږ د آزادۍ او سولې قدر کړو
نه کړو د ګینی او لجاجت دعوه

داغر دې اخیر په سر پر یوتې دی
مکړه استعماره! د قوت دعوه

دا یونس به وزی د مساهی له خولی
سخته ده د ده د هضمیت دعوه

نور پښتون ته هیڅ افسون جوړیږی نه
دا ده د ناموس او د عزت دعوه

لنډه دا چه دا حق څوک خوړی نه شی
ای بینا داغر څوک په سر وړی نه شی

(۳٦)

عبدالقدوس (پرهیز)

تاته وایم تاته

ای دلوړو غرونو بازه دلوړ خیال وزر پیدا کړه
د پریوتی قام لوړ تیا ته ثریا نظر پیدا کړه

هله ځان اور اور کښی کړه دی تیار وطن دپاره
چه ذری کړی ځانته پورته خاصیت دلمر پیدا کړه

ستادهری ذری زړه کښی اتومی زور او طاقت شته
خر پښتونه ته هم لبزځه د ژوندن هنر پیدا کړه

مسیحا په دودمړ قام کښی زردنوی ژوندساه پوه کړه
دسینی په سوړ نغری کښی دژوندون شرر پیدا کړه

انقلاب د حوادثو ستا ژوندون هیڅ بدل نه کړ
چه بدل دې ازوړ ژوند کړی یو دننگ محشر پیدا کړه

چه د ژوند بقا د پاره پسی لا تیار تکړه شی
نود تندی بارا نوته حوصله د غر پیدا کړه

چه خواص دبی ننگی هم د پستی کاندی ټول محو
په طبیعت دهر ځلمی کښی ربه دا اثر پیدا کړه

چه بتان دډار اووهم په یودم ذرې ذرې کړی
دپښتون گو کل کښی خدایه خلیلی ځیگر پیدا کړه

چه دقام په بدوور ځوتل په سرو و ینو ژړ یږی
دوطن دځلمو نجونو هسی رنگ بصر پیدا کړه

چه فرعون په شانی غرق شی غلیمان دپښتنو ټول
دمظلوم پښتون په آه کښی هادنیل خطر پیدا کړه

په یوه چیغه چه وینې کړی ویده کام له درانه خوبه
د(پرهیز) نغمو کښی ربه هسی رنگ اثر پیدا کړه

محمد حسن «کاکړ»

په امریکی کښی د پښتونوی مرکز

ډیر کلونه کیږی چه پښتو ته د باندنیو توجه شوی او اوس مخ په زیاتیدوه ده دا ځکه چه دنړی برو سور وار په وارلنډیږی او ولسونه د یو بل پیژندلو ته ځان اړ گڼی. د ولسونو د پیژندنی ډیره ښه لار ژبه ده - دژبی له لاری دیوه ولس خصوصیت - اخلاق دود - دستور او ذهنیت ډیر ښه معلومیدا یشی که څه هم په پخوا وختو کښی به زیاتره یو ولس د بل ولس له لیاری پیژندل کیده. خو په دې ډول به مقصد ښه نه ترسره کیده - له دې کبله بی واسطی پیژندنه ضرور شوه او دلته ولسی ژبو اهمیت پیدا کړ او دنورو ورته مخه شوه.

څه وخت چه افغانستان په بین المللی ژوندانه کښی سر پورته کړ او هسک شو یعنی داستقلال په گڼلو سره یی دځان اوملک واك خپل کړ - ورسره یی خپل شیان هم دپام وړ شول - پښتو مخ په هسکیدو شوه او یو ځل بیایی د توجه نظرونه دځان په لوری واړول. همدغه سبب دی چه په دې وروستی مهال کښی یی یو ځای بل ځای پر مختگ چټك دی - د علم او فن ورته مخه ده - کتابونه او خپرونی په کښی زیاتی دی نوی افکار - فلسفی په کښی رانوځی او ورسره دولس ذهنیت روښانه کیږي. څرگنده ده چه دیوی ژبی پر مختگ د هغه دولس د حرکت او خوځیدنی نښه ده او دژبی په مختگ کښی یی د ولس د رناوې کیږي. ځکه نو څوك یا ټولی هغه ټولنی چه غواړې یو ولس وپیژنی لومړې بی ژبه زده کوی او ددې مطلب د پاره دژبی مرکزونه پرانیزی پوهان ورته رابولی او دغه وظیفه ورسپاری.

پښتو د پاره دغسی مرکزونه او پوهان خصوصاً په دې وروستیو کالونو کښی زیات مصروف دی او کار کوی؛

په شوروی — جرمنی — انگلستان ناروی — سویس او امریکی اود دنیا په ځینو نورو هیوادونو کښی داسی مرکزونه او پوهان ډیر شته — یوازی د پوهانو نوم اخستل یی زمونږ په دې وړی مقالی کښی نه ځائیږی او زیات وخت غواړی ځکه چه: «نژدی له (۱۶۱) کالونو نه را په دیخوا د ختیځ پوهانو پام پښتو ته شوی دی او لومړی مستشرق چه مونږ ته معلوم دی هغه (گولډ شست) نومی یو جرمنی

دی چه په (۱۷۹۹) ع کال یی دپښتو یو لغت لیکلی او په پیټس بورگ کښی چاپ شوی دی)) . (۱)

له هغه وخت نه تر اوسه طبعاً په شمیر او تحقیقی اثار و کښی یی زیاتوالی راغلی چه علا قمنو ته پوره څرگند دی . په دوی کښی وتلی او نومیالی روسی مستشرق (برتلز) فرانسوی پښتو پوهاند ډار مسټټر — انگلیسی مستشرق راورټی اولاریمر — او جرمنی مستشرق کایگر او ترومپ او داسی ډیر نوردی — دوی ټول دافغانستان په سیمو کښی گرزیدلی او ژبنی مطالعات یی کړی او بیا یی دارزښت وړ اثار کښلی دی چه ځینی یی دپښتو په تاریخ او ادب کښی لوړ مقام لری.

د پښتو او سنی مشهور پوهان په ناروی کښی مارگن سټرن — په شوروی کښی اسلانوف — او په امریکی کښی ډاکټر هربرت پنزل نومی . دوی هم په پښتو کښی قیمتی اثار لیکلی دی .

مارگن سټرن د پښتو په اتیمولوجی او د خوشحال خان په اشعار ویو کتاب لیکلی اسلانوف برسیره په ډیرو رسالو اوس د پښتو روسی په یوه قاموس لگیا دی چه نژدې پنځوس زره لغتونه به ولری . داسی هم ډاکټر پنزل برسیره په ډیرو مقالو او رسالو د پښتو گرامر په نامه یو لوی کتاب لیکلی چه نن سبا به د کابل پوهنتون له خوانه په پښتو کښی له چاپ نه راووځی ،

کوم شی چه په امریکی کښی په دې تازه وختو کښی شروع شوی هغه دپښتو یو مرکز دی چه د مشیگن په پوهنتون کښی پرانیستل شوی دی . دامرکز به دپښتو په بیاو بیلواړ خونو څیړنی کوی او د ډاکټر هربرت پنزل او د ده مرستیال ډاکټر اوسکار شاوریاتر پاملرنی لاندی او په لارښوونی سره به په پښتو کښی علمی تحقیقات جاری ساتی . ددې مقصد د پاره یوه میاشت دمخه ډاکټر اوسکار د دوهم ځل د پاره کابل ته راغی دلته دپښتو له پوهانو او ادیبانو سره وغږید په پښتو ټولنه کښی له غړیو سره مرکه شو — د دې ځای ټول هغه پښتو تالیفات — او اثار چه د دوی په دغه نوی مرکز کښی په کاریدل امریکی ته یی چالان کړل . ډاکټر اوسکار وویل چه په دغه نوی مرکز کښی به لومړی د پښتو نوی شاگردان وروزل شی او وربسی به د پښتو انگریزی قاموس په لیکلو پیل وشی او داسی به هم دپښتو تحقیقاتو سلسله جاری وساتله شی

ډاکټر هربرت پنزل

پروفیسر پنزل په اصل کښی د استریا دی مورنۍ ژبه یی جرمنی ده — ډاکټر خپله دزیږیدنی نیټه ۱۹۱۰ ښیی په امریکی کښی یی دانگریزی ژبی او جغرافیی په انسټیټوټ

«۱» - د کابل مجلی ۲۲ م کال ۱۵ - مه گڼه ۲۵ م - مخ.

کښې کار کړی و روسته یی په همدغه څانګه کښې دډاکټری تیسس ولیکه چه دو یانا پوهنتون پرې دډاکټری شهادتنامه ورکړه .

دې وایی چه له پښتو سره یی په ۱۹۴۰ کښې شوق پیدا شو دالو نای په پوهنتون کښې یی دښاغلی عبدالستار شالیزی نه کله چه نو موړی هلته په زده کړی لګیاوو دپښتو ځینی نو ټو نه واخیستل . اته کاله وروسته په ۱۹۴۸ کښې افغانستان ته راغی دلته یی نه میاشتی تیری کړی اته میاشتی په کندهار او یوه هم په کابل کښې . د ده لهجه د کندهار لهجی ته ور ته ده دې لیکی چه همغلته یی دګر امر په لیکلو پیل و کړدې ښاغلی برسیره پردې ځینی نو رې رسالی هم په پښتو لیکلی دی دوه کاله دمخه په ۱۳۳۷ کښې یو ځل بیا دافغانستان او امریکی دحکومتونو په سکالر شیپ دلته راغی چه یو خود ادب پوهنځی په پښتو څانګه کښې د ژبپوهنی د رسونه ور کړی او بله دا چه دپښتو څیړنی ته دوام ور کړی او مخصوصاً دپښتو محلی لهجی مطالعه کړی .

دپښتو په باب کښې داسی نظریه لری .((.....

زه پوه یم څه شی چه په انګریزی — جرمنی یانور ولوید یځوژبو کښې اظهار او ویلی شی په پښتو کښې هم اظهار کیدای شی هغه خارجی متخصصین چه وایی پښتو او فارسی دسیانس او علمی مضامینو دپاره مناسبی نه دی معلومیږی چه د پښتو او نورو شرقی ژبو په باره کښې معلومات نه لری .))—(۱)

بل ځای وایی :«...په مختلفو ساحو کښې دژبی له استعمال څخه ژبه ترقی کوی . پښتو پرمخ بیولای شو که مثلاً په تعلیم او تدریس کښې د حقوقو دسیانس- دطب ایوداسی نورو مضامینو دپاره یی په کتابو - کنفرانسو - او امتحانو کښې استعمال کړو . پښتو پرمخ تلای شی که لکه اجرایی ژبه په رسمی راپورو ، فرمانو او قانونو کښې ډیره استعماله شی پښتو پرمخ تلای شی که په ادبیاتو کښې نه یوازی دنظم دپاره بلکه دنثر دپاره هم په ناولونو - لنډو کیسو او ډرامو کښې ډیره استعمال شی....(۲)»

ډاکتر ارسکارشاوریاګیلر

په ۱۹۲۲ کښې په کوستاریکار کښې یی دلومړی ځل د پاره سترګی غړولی دی . لومړنۍ او منځنۍ زده کړه یی په کلیفورنیا او لوړ تحصیل یی په پنسلوانیا کښې شوی او د ژب پوهنی دډاکټری شهادتنامه یی له همدی پوهنتون نه اخیستی ده .

دې وایی کله چه یی لوړ تحصیل خلاص کړ واشنګټن ته ستون شو هلته له افغانی زده کوونکی ښاغلی فقیر نبی الفی نه یی پښتو زده کړه- بیا دپښتو په باب کښې د زیات معلومات لاس ته راوستلو دپاره نیویارک ته لاړ او ورپسی اته کاله دمخه په ۱۳۳۱ کښې د

(۱)— کابل مجله د ۲۹ م کال ۴۷۴ مه ګڼه ۶ م مخ

(۲) کابل مجله د ۲۹ کال ۴۷۴ مه ګڼه ۶ م مخ .

پښتو لهجی د کره کولو او سمولو په غرض کابل ته راغی . د لته پښتو ټولنی یو خاص ښوونکی و ر مقرر کړ او دلهجی په سمولو کښی یی یوه میاشت ورسره مرسته و کړه .

په پښتو ټولنه کښی یی په پښتو ژبه یو کنفرانس هم ور کړ چه تر زیاته حده دپښتو په باب دده نظر تري معلومیدای شی .

دې وایی: « پښتو یوه ژوندۍ او پراخه ژبه ده - دارښتیا خبره ده چه دپښتو ادبیات هغسی پوره نه دی لیکل شوی لکه دنو رو ژبو - لیکن د د ی خبر ی څخه دا نه راڅرگندیږی چه پښتو یوه محدوده ژبه ده..... یو بل نقص دپښتو په لیکلو کښی چه باید لری شی هغه دعربی توری دی. داتوری چه افغانستان له ایران څخه اخیستی او ایران ته د عربستان نه نقل شوی دی - دافغانستان دپاره خارجی دی او د پښتو ژبی سره اړخ نه لگوی .

حتی داتوری دفارسی ژبی سره هم ښه نه ښکاری داتوری یوازی دعربی ژبی دپاره چه هیڅ رابطه له پښتنو او فارسی سره نه لری - اختراع شوی دی که تاسی غواړی چه پښتو او د پښتنو دودونه او خویونه په دباندنیو هیوادونو کښی هم خپاره شی پښتو باید چه په داسی تورو سره ولیکل شی - چه د پښتو ژبی سره ښایی، لاتینی توری چه دداسی یوی ژبی سره رابطه لری د پښتو د پاره مناسب دی . نو رو پوهانو زما په شان پښتو په رومی تو رو سره لیکلی ده ...

اودا توری دعربی تورونه پښتو ته ډیرورته دی په دې توگه چه پښتو په اسانۍ ولیکلای او ولوستلای شی ..... د پښتو لیکل په رومی تورو سره به دباندنیو هیوادو کښی د پښتو په لوستلو کښی ډیری اسانتیا پیدا کوی او د پښتو او پښتنو او ددوی د کلچر او تمدن قدر او قیمت زیاتوی ..... - » .(٤)

ښاغلی شاوریا - پښتو دخارجیانو د پاره په یوه رساله کښی په لاتینی تور وایکلی وه .

هیله ده چه د مشیگن په پوهنتون کښی د د ی نوی مرکز په خلاصید وسره به د پښتو په بیلو بیلو اړخونو کښی ښه علمی تحقیقات وشی او په دې ډول به د د واړو ولسونو په پوهولو، راپوهولو کښی یو ښه باب وی .

(٤) د کابل مجی د ۲۲ - گال - ۱۵ - م گڼه (۲۸) مخ

حبیب الله «تبزی»

معاصر افغانی ادب

کله که له یوی خوا د ادب په برخه کښی دا خبره رټه مشهوره او عامه ده چه «ادب د ثقافت دندارهده» نو له بلی خوا داهم پوهانو منلی ده چه ادب پخپله په ثقافت کښی شامل او «هر معین ثقافت، ثقافت د ایډیالوجی په بڼه عبارت دی د یوی ټاکلی دوری دسیاست او اقتصاد د انعکاس څخه، داسی چه ثقافت هم بیا د یوی معینی ټولنی پر اقتصاد او سیاست ډیره قوی متقابله اغیزه لری» نو له دې امله مونږ باید د هرې معینی ټولنی د یوی ټاکلی دورې د ادب د مطالعی څخه د مخه د دغی ټولنی اقتصاد او سیاست چه د لته بیا هم لومړنی بنسټ او دو هم پر همدې بنسټ بنادی مطالعه کړو.

ځکه څنګه چه اقتصاد او سیاست بنسټ دی نو دا خبره هم حتمی ده چه که د یوی معینی ټولنی اقتصادی او سیاسی نظام نوی و نو یی ثقافت هم نوی دی او که یی اقتصادی او سیاسی نظام زوړ و نو یی د ثقافت بڼه هم هرومرو زړه ده.

یا په بله ژبه کله که اقتصادی او سیاسی سیستم مترقی و نو یې انعکاس هم بریښیی او که غیر مترقی و نو یی انعکاس هرومرو هم غیر مترقی دی.

له دې ځایه ده چه موږ باید د مخه د معاصر تحریری افغانی ادب د مطالعی څخه د افغانی ټولنی اقتصادی بڼه معینه او دا ځانته څرګنده کړو چه نوموړی ټولنه له څه وخت نه را په دې خوا دې نننۍ اقتصادی مرحلی ته ورننوتی ده. ځکه له یوی خوا د هغو اساساتو له مخی چه د مخه و ویل شو پر ته د افغانی ټولنی داوسنی اقتصادی بڼی د مطالعی څخه د معاصر ادب مطالعه سر سری او له بلی خوا د مترقی منطق له نظره پرته د دغی ټولنی د اقتصادی بڼی د ټاکلو څخه د دې خبرې تر سره کول هم رټ ګران بریښی چه معاصر ادب یعنی کوم او د څه وخت ادب؟؟

ایا هغه ادب چه زما د ژوندانه په شپو ورځو کښی منځ ته راغلی دی او که هغه چه د هابل د حیات په موده کښی؟؟ ایا هغه ادب چه د شل کاله څخه را په دې خوا منځ ته راغلی دی او که هغه چه د سل کاله څخه را په دې خوا؟؟ ایا هغه چه د احمد د مکتب په نامه یو څو خبرې ورته تراشل شوی دی او که هغه چه د محمود د مکتب په نامه؟؟ ایا هغه چه همدا نن روان دی او که هغه چه د پرون څخه راپاتی دی؟؟

طبعا یو هم نه . بلکه هغه چه د افغانی ټولنی د نننی اقتصادی څرګندی ټاکلی مرحلی سره څنګ په څنګ زیږیدلی او منځ ته راغلی دی . ځکه « د هری ټاکلی دوری ثقافت د هغی دوری سیاست او اقتصاد ټاکی » نه هسی وچی اټکلی نیټی او افراد .

دا دی په همدې اساس مونږ لومړی دا وسنی افغانی ټولنی اقتصادی مرحله څه نه څه څیړو او بیا پسی معاصر افغانی تحریری ادب ته راځو او ګورو چه د خپل بنسټ سره څه ډول اړیکی او څه رنګ لری .

څنګه چه سړی له دې نظره افغانی ټولنی ته ځیر شی نو په ډیر زغرده سره دا ویلای شی چه د افغانی ټولنی د نننۍ مرحلی څخه د مخنۍ مرحله رټه فیوډلی « خان خانی او طوایف الملوکی » ده . په داسی حال کښی چه نننۍ مرحله یی یوه ښکاره « انتقالی » مرحله ده او په دې کښی ده چه ورځ په ورځ خپله زړه فیوډلی بڼه د ملی سرمایه دارۍ په مقابل کښی بدله کړی .

اما دا چه نوموړې ټولنی په دې مرحله څه وخت پښه ایښی ده دا پېښه هم ښکاره او لومړنۍ څرګنده بڼه یی د هغه مهال سره برابره ده چه افغانستان بیا خپل استقلال ګټی او د نړۍ ډیر ستر استعماری قوت یعنی لویی بریټانیا ته ماته ورکوی . دا مهال هغه مهال دی چه د نړۍ اکثر په مخ تللی هیوادونه د ملوک الطوائفی د مرحلی څخه وتلی دی څوک په سوسیالستی ژوند پښه زدی او څوک په دې پسی دی چه سرمایه داری خپل معراج ته ورسوی . دا مهال د نړۍ په مترقی هیوادونو کښی ضد فیوډلی افکارو غلبه موندلی او د خانی او ملکی پرځای ملی او دیموکراتیکی نظامونه جوړ شوی دی د دی سیر سره څنګ په څنګ ثقافت هم په دغو هیوادونو کښی خپله بڼه بدله کړې ده او د ثقافت په هنداره یعنی ادب کښی د فیوډلی ستاینو پرځای د ازادۍ خپلواکۍ او د ډیموکراسۍ سندری غږیږی . دا وخت ملی شاعران او انسانی ادیبان ځانونه د ډیموکراسی مداحان بولی او د ځان او خان پرځای د جهان او انسان غم ژاړی .

همدا مهال دی چه د تولید د طرز د بدلیدلو په اساس د نړۍ د بیلو بیلو سیموترمنځ دارتباط شکل هم بدل اورټ زیات شوی دی دلته ده چه پورته ذکر شوی افکار په یوازی هغو ملتونو کښی ډیر وخت نه پاتی کیږی چه په کښی زیږیدلی ورځکه دا وخت د تاریخ د جبر سره سم استعماری قوتونه هم د غه افکار د هغو کوچنو ټو مرغانو په څیر چه ښکاریان یی په پنجرو کښی اچوی — اسیر نه شی ساتلای . بلکه څرنګه چه د دغو افکارو طیران د نړۍ د ډیرو لوړو غرونو نه هم لوړ دی — نو په ډیر اسانتیا د نړۍ د ډیرو سترو سمندرونو او بی پایانه ځنګلونو څخه

تیریږی او گام په گام په شرقی ملتونو کښی هم خپریږي . شرقی ولسونه دهمدې افکارو اودسرمایه‌داری سره‌دار تباط په‌اثر بیا په‌حرکت راځی . افغانی ټولنه هم ددې شرقی مترقی حرکاتو او بشری نهضت څخه پرڅنگ نه‌پاتی کیږی . بلکه دلته هم ضد امپریالستی اوملی مبارزه شدت‌مومی . دخپلواکۍ او واس‌مینه ورځ په ورځ په زړونو کښی زیات ځای نیسی ملی مشران چه هغوی خپله‌هم دهمدې جریاناتو محصول ووځوانانوته دقربانی اووطن پرستی درسونه ورکوی او غواړی چه افغانی ټولنه بیادیوه سترملی قیام د پاره‌تیاره کړی .

دلته ده چه په ادب کښی هم عین همدغه جریان څرگند اودتحریری ادب بڼه دسیاست د عکس‌العمل په توگه دورا یه ښکاره ده مثلاً هغه څه چه دامهال دیوه افغانی سترشاعر د خولی څخه اوریدل کیږی هغه دا دی :

زړه زما ډك دی له مینی دوطن
خپل وطن راته عزیز دی ترخپل تن

هریو گل می‌دوطن پرما ډیر گران دی
تر کشمیره - ترپاریسه - ترلندن

شیرین ځان می په شیرین وطن‌فدادی
زه خو دا رنگه فرهاد یمه کوهکن

گلستان می د وطن لادر کنار دی
خارستان دی د وطن راته گلشن

دوطن په حمایت کښی ځان مباح دی
په‌د امینی کښی لازم دی سر باختن

چه دچا په سر سودا د وطن نه وی
سر د ده دی مستحق د بریدن

چاپه زړه کښی چه‌جنون دوطن‌نه وی
هغه زړه دی خدای همیش لری غمجن

که څه ډیر دی په جهان کښی‌عزتونه
ډیرعزت دی په خدمت کښی دوطن

داشعردمرحوم‌غلام‌محی‌الدین «افغان» دی .

« افغان‌ددغی دورې‌یومنور اوزړورځلمی و دملیت‌اووطن‌پرستی احساسات‌یی‌ډیرتاوده‌وو.... دی‌دخپل‌عصریوستر مفکراود تجددمحرك‌و....»

د ۱۲۷۹ ه په شاوخوا کښی په کندهار کښی زیږیدلی‌او دپلارنوم یی عبدالرشید و .

د مرگ نیټه یی ۱۳۰۰ ه ده .

همداد «افغان» دمرگ شپی ورځی‌او د ده دملی جدوجهد وروستی کلونه دی چه‌دنړۍ دلومړی عمومی‌جنگ اورمری‌اوسوسیالستی سترانقلاب په بریالیتوب سره پای ته‌رسیږی .

دلته ده چه په ښایسته زیاتو شرقی ملتونو کښی د حق خود ارادیت او ازادۍ فلسفه پراستعمار غلبه مومی . ضداستعماراورونه دلته او هلته په لمبو راځی د استعماری قوتونو ترپښولاندی مځکه‌ورځ په‌ورځ‌سره کیږی . چیرته خپله‌استعمارچیان‌اوچیرته د دوی صادق نوکران له صحنی څخه ایستل کیږی .

ډیر داستعمار په ځنځیرونو تړلی اسیر ملتونه دخپلو ولسی ولولو په زور داسارت ځنځیرونه شلوی اودخپلواکو ملتونو په لړ کښی په هسکه غاړه دریږی .

بیت

غړوندی څټ ته اچوی شی منم
ولولی هیڅ ځنځیر تړلی نه شی

اجمل خټك

افغانی ټولنه پدې نهضت کښی هم په لومړی سر کښی ځای نیسی او په ۱۲۹۸ ه کښی بیاخپل استقلال ته رسیږی او ننني افغانستان په همدا اوسنی سرحدی بڼه دنړۍ دخپلواکو هیوادونو په لړ کښی ځای نیسی. اماله بده مرغه د ځینو سیاسی مشکلاتو او استعماری چالونو له امله دامهال هم د ډیورنډ داستعماری فرضی کرښی مسأله څرنګه چه دلویی افغانی ټولنی اوانصاف غوښتنه وه هغسی حل نه شوه بلکه په وچ کلك زور په داسی یوه عجیبه بڼه پاتی شوه چه دنړۍ واړو انصاف خوښوونکو او افغانی ولس ترننه پوری پرته د یوه استعماری جبر څخه بل څه نه ده بللی : ځکه په داسی یوه خیالی کرښه دیوی واحدی ستري افغانی ټولنی تجزیه اوسره جلا کول داسی له عدل او انصاف څخه لیری عمل دی لکه کوم واحد بدن چه دیوه ظالم په توره دوه ټوټی اوسره بیل شی .

همداسبب دی چه د دغی استعماری دسیسی اوجابرانه عمل عکس العمل هم چه په ټوله افغانی ټولنه کښی دیوه ملی درد په حیث له ډیر پخوانه څرګندی پر معاصر افغانی تحریری ادب ډیره زیاته اغیزه لری. اماڅرنګه چه ددغه عکس العمل او افغانی ملی درد ډیره ښکاره بڼه په افغانی تحریری ادب کښی څه وروسته ښه لیدل کیږی نوله دې امله یی مفصله څیړنه لږه بیرته غورځوم اواوس بیرته دې ته راځم چه د افغانی ټولنی د ۱۲۹۸ ه دستر ملی قیام یعنی د خپلواکۍ د بیرته ګټلو څخه وروسته ددغی ټولنی رنګ څنګه بریښی .

دامهال څرنګه چه هم ګوته ورته ونیول شوه په افغانی ټولنه کښی هغه رنګه چه مود ملی سرمایه داری په نامه یاد کړوروورو څرګنده بڼه مومی . ځکه وروسته له دې د دغی ټولنی اړیکی د سرمایه داری نړۍ سره ورځ په ورځ زیاتیږی — دهیواد په اقتصادی بڼه کښی څو مره دبهر نیو هیواد و نو څخه دماشینو نواو فابریکو د راوړلو هڅه زیاتیږی. دملی صنایعو داصلاح او په مخ تګ د پاره تازه پر وګرامونه منځ ته راځی دداخلی سیاست په بڼه کښی بدلون د ورایه محسوس کیږی

دزور دحکومت پر ځای دخلکو دخوښۍ ذ حکومت خبرې را برسیره کیږی کوچنۍ او لویی ملی جرګی د همدی مطلب دپاره منځ ته راځی دوطن منو رینو ته په سیاست اومملکتی چارو کښی دمداخلی لاره تر ممکن

حده پوری پرانیستل کیږی دبهرنۍ نړۍ سره شه دمطبوعاتو او خپرونو او شه د اشخاصو اوهیأتونو مستقیم تګ راتګ له امله مناسبات پوره ټینګیږی . دزاړه تعلیم ځای ګام په ګام عصری تعلیم ته ور پریښو دل کیږی نوی اوعصری مکاتبو رځ په ورځ زیاتیږی نجونی اوهلکان دعصری تعلیم دپاره دباندنیو هیوادونو ته مخه کوی د کلم او ژبی آزادی قوت مومی او برسیره پرهغو خپرونو چه په مجلد ډول سره خپریږی متعددی جریدی اومجلی هم منځ ته راځی.

دادب یادثقافت دهنداری په بڼه کښی هم طبعاً بدلون راځی له استعمار او ارتجاع سره مبارزه دادب ستره موضوع ګرځی لیکوال دنوی ژوند اونوی ثقافت ستاینه کوی دخپلواکۍ ساتنه دهیواد پر مختګ او اجتماعی عدالت او مساوات دادب روح ګرځی د زاړه ژوند زاړه دودزاړه خیال اوزاړه فکر سره مبارزه ، ادب خپل هدف ګڼی دافغانی لیکوالو شمیر هم په کافی اندازه زیاتیږی چه ځنیی مشهور اشخاص یی دادی .. ولی محمد (مخلص) عبد العلی (مستغنی) — سیدحسن — برهان الدین (کشککی) اوښاغلی عبدالهادی (داوی) له بده مرغه چه افغانی مترقی جریان هم داستعماری ناخوالو څخه پر څنګ نه پاتی کیږی بلکه وروسته دیو څه مودی څخه په ۱۳۰۷ کښی دهغو استعماری دسایسو پر اساس چه ډیره زیاته اتکایی په خپله دافغانی ټولنی پرارتجاعی اوناپاکو عناصرو وه قطع کیږی.

ثقافت هم په دې بحران کښی داسی صدمه وینی چه پرته د استعمار چیانو او دهغوی دصادقو نوکرانو څخه بل دهرانسان زړه پری ټوټی ټوټی کیږی ملی سرمایه دچورو چپاو مړۍ ګرځی — د مکاتبو ورونه تړل کیږی کتابخانو ته اوراچول کیږی .

منورین او پوهان څوک په توپونو کښی الوزول کیږی او څوک په سولۍ خیژول کیږی څوک د ارتجاع د علمبردارانو د ټوپکونښی ګرځی او څوک ژوندی په ګور کښی خښیږی .

اما څوک چه د دغه ضد انسانی طوفان څخه ژوندی وزی هغوی د خپلو کوټو په ګوټو کښی ناست او دزړه وینی څکی خپرونی — جریدی رټی له رونق څخه لویږی ادب غاړبوجن کیږی او ادبی دنیا بیا دناپوهیء په وریځو کښی رټه ور کیږی .

مګر له ښه مرغه چه د دغه ارتجاعی جریان دورهم دومره نه اوږدیږی بلکه وروسته دیو څو میاشتو څخه په ۱۳۰۸ کښی صحنه بیرته بدلیږی بحرانی اوضاع پای ته رسی . د وطن د پر مختګ او د خلکو دژوندانه دسویی دلوړ ولو دپاره مساعد فرصت منځ ته راځی له بهرنیو هیوادونو سره ارتباط

تر پخوانه هم زیات پسی تیګیږی د هیواد په اقتصادی بڼه کښی بدلون ورځ په ورځ پسی زیاتیږی او هغه انتقالی بڼه چه موږ دمخه یاده کړه د امهال پوره وضاحت پیدا کوی ښاری او محلی صنایع ګام په ګام قوت مومی متعددی ستری فابریکی په کار لویږی. سرمایه تر ممکنه حده پوری تمرکز پیدا کوی شرکتونه او تجارتی ـ موسسی وسعت مومی بانکداری رونق پیدا کوی ځینی ځرګند فیوډلی قوتونه وخت په وخت له منځه ځی ښارونه وسعت مومی د خلکو په تیره بیا ښاریانو د ژوندانه په وسایلو کښی ځرګند بدلون راځی. سیاست هم بحرانی او منحط حالت څخه ځان باسی حکومت له ملت سره د خپلو منا سباتو د لرلو د پاره د ملی شورا دمجلس په تشکیل لاس پوری کوی او نننۍ ملی شورا منځ ته راځی. دغه ډول هم دوطن د یو شمیر سپین ږیرو او مجربو کسانو څخه یو بل لوی مجلس د دوی دمشورونه داستفادې په غرض د «اعیان» په نامه جوړیږی. خپله حکومتی تشکیلات هم ورځ په ورځ وسعت مومی او پراخیږی. دلته ده چه دثقافت بڼه هم ډیره زیاته اوړی. عصری تعلیم او تدریس په هیواد کښی غلبه مومی. د عصری مکاتبو شمیر په یوه بیساری او غیر قابل مقایسه اندازه زیاتیږی ـ پوهنځی او عالی مکاتب منځ ته راځی ـ د متعدد و ادبی انجمنونو تشکیل صورت نیسی. افغانی ځوانان ورو سته د خپلو عالی تحصیلاتو د تر سره کولو بیرته هیواد ته راځی او ډیری زیاتی مملکتی چاری په لاس کښی اخلی. نوی افکار او نوی خیالات په خلکو کښی ترهر وخت زیات رواج پیدا کوی. خلک له زاړه ژوند څخه دنوی ژوند پر خوا مخه کوی. ورځپانی ـ مجلی او جریدی په بیساری اندازې زیاتیږی.

د لیکلوالو شمیر او قدرت ورځ په ورځ زیاتیږی ـ طباعتی چاری قوت مومی ـ په سل ګونو مجلد کتابونه خپریږی. داد ب بڼه هم د لفظ او هم دمعنی په لحاظ بله کړ ځی. ادبیات د کیفیت او کمیت له مخی په منځ ځی ـ له زاړه ژوند ـ زاړه دود او زاړه فکر سره مجادله دادب اصلی موضوع ګرځی ـ نثر له هر وخت څخه زیاته ترقی کوی اکثر لیکوال د هیواد د بد مرغی د عواملو راسپړل او په ګو ته کول خپله وظیفه ګڼی ـ له مزخرفاتو سره مبارزه په ادب کښی او چت ځای نیسی.

د خانی ـ ملکی او تر بګنی پر ضد مضامین ورځ په ورځ قوت مومی ـ د آزادی، مساوات او عدالت ستاینه ادبی مضمون ګرځی.

ملی لیکوال دځان پرځای دافغان غم ژاړی او وایی :((وروسته له دې باید دشخصی ستاینو پر ځای قومی ژوند ته ځیر شو))دامهال انتقاد دافغانی ادب گاڼه گرځی ـ دشهی دخالو نو دزلفو دټالو نو ـ دبلبل او گلو نو او د خوبانو دمکیزنو پرځای شاعران دولس دغمو نو او دردو نوسندری وایی.

کوم افغانی لیکوال چه په دې دوره کښی په خاص ډول سره باید دلته یادشی دهغو ی نومونه دالفبا په ترتیب دادی :

ښا غلی امین الله (زمریالی)- ښا غلی سیدشمس الدین (مجروح) ـ ښاغلی صدیق الله (رښتین) ـ ښاغلی عبدالروف (بینوا)ـ ښاغلی غلام جیلانی (جلالی) ـ ښاغلی قیام الدین(خادم) او ښاغلی گل پاچا(الفت).

ښاغلی زمریالی

دخپلی دوری یو نامتو لیکوال او پوخ شاعر دی چه اوس دعمرو روستی شپی ورځی په بانکداری کښی تیروی مگر دمخه تردې یی اکثر عمر په عسکر ی معلمی او علمی خدمت کښی تیر شو ی دی .

دغه ښاغلی یو ډیر زیږ پښتون او دسپیڅلی زړه خاوند دی. آثاریی څه تعلیمی خوالری او ځنی دپښتونولی پر فلسفه راڅر خی او په متفرق ډول سره د وطن په مطبوعا تو کښی خپا ره شوی دی .

ښاغلی مجروح

یو تکړه افغانی لیکوال دی چه آثار یی اکثر انتقادی ـ اجتماعی او فلسفی خوالری . دده دنثر کومه مجموعه لا نه د ه خپر ه شو ې خو دنظمو نو یوه مجموعه یی((منتخب شعرو نه)) دسید شمس الدین مجروح په ۱۳۳۷ کال کښی دپښتو ټولنی له خوا خپره شوی د ه .

دمجروح دشعر دایوه ښکاره ممیزه ده چه دانسان خواله له طبیعت سره کوی . دبشری ټولنی دعظمت پرحال له سپوږمۍ سره ژاړی ((زه او سپوږمۍ))او دافغا نی ټو لنی د عظمت سندری په سپین غر ه کښی وایی((سپین غر))- ر ښتین

دخپل وخت نومیالی لیکوال او قوی نثر لیکونکی دی چه آثار یی په متفرق او مستقل ډول سره دهیواد په مطبوعاتو کښی خپا ر ه شوی دی ـ نظم او نثر دوا ړ ه لر ی ـ مگر دنثر خـوا یی له نظم څخه ډ یره قـو ی او برجسته د ه .

حتی دی دخپلی دوری یوازنی لیکوال دی چه دنثر خوایی څوڅو ځله تر نظم قوی ښکاری دنثر ډیره ستره ممیزه یی داده چه الفا ظ تل قالبی بریښی ـ دنظمو نو کو مه مجمو عه یی تر او سه لا نه ده خپره شوې ا ما په نثر کښی یی مستقل اثار ز یا ت چاپ شو ی دی

زما په عقیده((دهندسفر))دربښتین شهکار او پخپله دوره کښې دنثر له مخی دپښتو یو ډیر قیمتی اثر دی

دې ځینی ترجمی هم لری چه په دې لړ کښی یی ((دمینی هنداره)) ډیر ښه مستقل اثر دی .

بینوا:

بینوا که له نورهر څه بینوادی نو دشعر او ادب په نړۍ کښی خو یی برخه په خپل وخت کښی ترهیچا هم کمه نه ده .

دې هم په نظم او هم په نثر کښی ډیره ستره برخه لری . اثار یی په مستقل او متفرق ډول دوطن په مطبوعاتو کښی خپاره شوی دی . دنظمونو یو مجموعه یی ((پریشانه افکار)) په (۱۳۳۵) کښی دپښتو تولنی له خواخپره شویده . دده یوه بله منظومه رساله ((دغنمو وږې)) په مستقل ډول سره چاپ شوې ده. اما دنثرونو هغه برخه یی چه یو ډول انتقادی لنډې پارچی دی او دې یی ((پریشانه افکار)) بولی تر اوسه لا په مستقل ډول سره نه ده چاپ شوې .

دبینوا یو ډیر ستر امتیاز دخپلی دورې په لیکوالو کښی دادی چه دډرامی په لیکلو کښی هم ماهر او ((زوړ کنهکار)) یی د دې لړ لیکنو یوه نمونه نه ده.

که دښاغلی بینوا په نثر کښی دابرخه نه وې نو سړې و یلای شی چه دده دنظم خو اله نثر څخه ډیره قوی ده .

دده ستر افغانی لیکوال لیکنی برسیره پر دی چه سرتر پایه له انتقاد څخه ډکی دی درد او الم هم پکښی څپی وهی. دمحیط څخه بیزاری او تأثر یی په اثارو کښی دورایه ناري وهی .

اشعار یی سخت سوځند دی د خپلی زړی ټولنی افراط وتفریط او دښکته طبقی بده ورځ یی په ډیر ومؤثرو الفاظو پکښی ترسیم کړی ده خومره چه دبینوا خیره خندا نه او ناسته ولاړه یی له خو ښی څخه ډکه بر یښی لیکنه یی هغومره دتأثر او الم هنداره ده حتی کله که سړی دبینوا ظاهری بڼه او ژوند د ده له اثارو سره پرتله کړی نو به هرومرو ووایی چه یاره دابینوا او دالیکنی. دی به تماشی دباران او دپرخی دڅاڅکو کوی مګر دشعر مضمون یی داو ښکو څاڅکی وی ژوندبه یی دسروملو اوژیړو ګلو په نړۍ کښی تیریږی مګر مضمون یی دسر وستر ګو اوژیړومخو نو څخه جوړ یږی له همدې امله ده چه ښاغلی الفت دده په برخه کښی وایی :

بینوا په هر حال کښی بینوادی او د عیش اوعشرت باده یی له بینوایانو څخه نه شی بیلولی ځکه دی هغه څوک دی چه په اختر و نو کښی دیتیمانو په حال ځوریږی او دپردیسانو په هدیره او ښکی تو یوی .

بینوا دهند دځینو ستر ولیکوالو په تیره بیا تاګور او اقبال له اثارو څخه پوره متأثر دی دتاګور (گیتان جلی) اودا اقبال (مسافر) د ده ادبی ترجمی دی.

ښاغلی جلالی

ددې دوری یو مشهور لیکوال دی چه اثار یی دهیواد په ورځپاڼو ـ مجلو، جریدو او کلنیو

کښې خپاره شوی دی دده اثار تعلیمی او اجتماعی خوالری د پښتو نولی فکر بی هم په اثارو کښې لیدل کیږی اما انتقادی خوا یی تته ده.

ښاغلی خادم

دی څرنګه چه غواړی چه رفتار گفتار او کردار کښې پښتون اوسی دغه ډول یی داثارو او افکارو ډیره غالبه بڼه هم پښتونولی ده خادم پر پښتو نولی دومره معتقد دی چه دی وایی.

(له اره پښتون هیڅکله هم نه خاین کیږی)

په دې برخه کښې کله کله دی دومره غرق شی چه خپل ایمان هم پښتو نولی کښې لټوی او اسلام او پښتو نولی رټ سره موافق بولی.

دده اثار هم په متشتت او هم په جلا ډول سره دوطن په مطبوعاتو کښې چاپ شوی دی دنظمونو یوه مجموعه یی (دمرغلرو امیل) څو کاله دمخه داصلاح دور ځپانی داداری له خو اخپره شوی ده په دې مجموعه کښې برسیره پر هغو اشعارو چه د پښتو نولی او ملیت پر محور واخرخی انتقادی او اجتماعی شعرونه یې هم زیات دی دنثر ونو یوه مجموعه یی (خیالی دنیا) په همدې څو شپو ور ځو کښې د پښتو ټولنی له خوا خپره شوه چه په دې مجموعه کښې هم یولړ کوچنۍ پارچی او مقالی را ټولی شوی دی (نوی ژوندون) هم دده یو همدا راز کتاب دی چه ډیر پخوا خپور شوی دی خادم ترجمی هم لری چه ترټولو نه مهمه ترجمه یی په دې برخه کښې (دشریف سر گذشت) یوه ډیره خوږه کیسه ده.

دا کتاب دومره خوږدی چه دخپلی دوری په ترجمو کښې په لومړی سر کښې د ریږی خادم هم دتاگور او اقبال اثارو څخه ډیر سخت متأثر دی او ښایسته زیاتی ترجمی یی هم ددوی له اثارو څخه کړیدی

الفت

څرنګه چه د الفت تخلص الفت دی دغه ډول دده داثارو سره هم دخلکو ډیر زیات الفت دی څومره چه ماته څرگنده ده ددغی دوری دهیڅ یوه افغانی لیکوال داثارو عام مقبولیت هم تر الفت څخه نه دی زیات او دا ځکه چه دده په نظم او نثر دواړو کښې روانی او انتقادی روحیه ډیره زیاته څرگنده ده اثار بی اخلاقی انتقادی او اجتماعی دی اما انتقادونه یی څومره چه شدید دی هومره په نرمو الفاظو کښې اداشوی دی او دانه یو ازی دده د اثارو ممیزه بلکه عقیده یی هم داده چه انتقاد باید داسی وی لکه په خوږو کښې نغښتل شوی کنین.

دده دنظمونو یو ه مجموعه (غوره اشعار) په ۱۳۳٤ کال کښې د پښتو ټولنی له خوا دښاغلی رښتین په مقدمه چاپ شوې ده.

دی په دغی مقدمه کښې لیکی. ((داخوږ او بوخ اثر دنو میالی ادیب گل پاچا الفت دی))

((دا د ده ټولوا شعا رویا په بله ژ به د ده د ژوندانه دادبی پا نګی غوره او چوڼ شوی برخه ده. په دی اثر کښی د آزای پیغا مونه د پسر لی نغمی — دعشق او مینی سندری - دملیت او قو میت جذبی د اخلا قی خویونو ځلا ندی پلوشی — لوړ خیالات، عالی افکار — انتقا دی روح — دژوند انه رمزونه او داسی نوری ښیګڼی څپی وهی.))

دغه ډول دده دنثرونو یوه مجموعه (غوره نثرونه) هم دپښتو ټولنی له خوا خپره شوی ده. په دی مجموعه کښی هم یو لړ لنډی پارچی او مقالی راټولی شوی دی د دغو د مضمون ډیره غا لبه روحیه هم د ده دنظمونو په څیر هغه رو حیه ده چه دزړی جامعی مزخرفا ت او فجایع په ډیر ماهرانه ډول پکښی ترسیم شوی دی (بله ډیوه) هم دالفت یو ډیر خوږ اثر او پخوا خپور شوی دی دغه ډول (لیك پوهه) دالفت یو ډیر مشهور اثر دی چه د اتحاد مشرقی له خوا خپور شوی دی دغه ښا غلی ځینی تر جمی هم لری چه ډیره ښه ښه یی په هغه اثر کښی چه (لوړ خیا لونه او ژور فکرونه) نومیږی او د پښتو ټولنی له خوا خپور شوی دی — څر ګنده ده.

د همدی لیکوالو دادبی قدرت او زوږ شپی ور ځی دی چه انګلیسان دهند څخه ایستل کیږی او د لوی هند خاوره په هسی مرموزه او عجیبه ښه په دوو برخو یعنی هند او پاکستان ویشله کیږی. اما له بده مرغه چه د لته هم دډیو رنډ د فرضی کرښی نه دهاخوا افغانی ټولنی سرنو شت دافغانی ټولنی دغوښتنی عدل او انصاف دتقاضا سره سم نه فیصله کیږی بلکه کوښښ کیږی چه دخپل سرنوشت دټا کلو په لاره کښی ددغی ټولنی پر واړو هیلو ستونزور بړونو — ایثا راو کوښښونو خاورې واړول شی — دلته ده چه دسترې افغانی ټولنی د کلو نو — کلو نو په زړه کښی لرلی زوړ درد په څپو راځی او داڅپی پر افغانی ادب دو مره اغیزه کوې چه سړې ویلی شی ادب هم پر څپو راولی. دادرد په مشخص ډول سره څر نګه چه دمخه هم وو یل شو د هغی ستر ې افغا نی ټولنی دتجز یی زیږنده درددی چه احمد شاه بابا یی داوبی پښتونخوا په نامه دلوړو غرونو دسرونو څخه تختونه ځارول او خوشحال خان خټك یی په زغرده داسی اعلا ن کاوه:

ټول پښتو ن له کندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کارپټ او اشکار

همدا ډیر پخوانی درد او لرغونی پوخ فکر دې چه دا مهال د (پښتونستان) په نامه تعبیر یږی او دافغانی ادب تر ټولو نه او چته موضوع ګرځی. اما څر نګه چه زه دلته په دې مقاله کښی دخپلی مطالعی ساحه محدوده وینم او دټولی افغانی ټولنی پر معا صر تحریر ې ادب نه شم غږید لاې نوله دې امله د دې خبرې دپوره څیړنی څخه تیر یږم. اما دمخه تر دې چه دافغانی ادب دنوې میلان په باره کښی څه ووایم دایادونه لازمه ګڼم چه و روسته

دهغی ډلی افغانی لیکوالو څخه چه دمخه په مفصل ډول سره ور باندې وغږ یدم یوز یات شمیر نور لیکوالو هم دلیکوالی ډګر ته راوتلی دي چه ددې لیکوالو هره ډله بیا ځانته ځاي او ادبی مقام لري . مګر څرنګه چه دغه ډله لیکوال په راوروسته او څه نوي مرحله کښی راځی او اثاریی اکثره په متفرق ډول سره خپاره شوي دي نو له دې امله ددوي په برخه کښی دمفصلو خبرو څخه ځان کمزوري وینم او هیله لرم چه په راتلونکی مهال کښی به داخبره په پوره او کره ډول سره ترسره شی .

نوي میلان:

دپورته خبرو په پاي کښی باید داهم وویلی شی چه په معاصر افغانی ادب کښی یو نوي میلان دورایه څرګند او هغه دادی چه (ادب د ژوند دپاره) همدا میلان وچه له یوې خوا په افغانی ادب کښی ولسی فکر غښتلی او له بلی خوا ادبی لیکنی ولسی ژبه او ژوند ته رټی ورنژدې شوي ځکه چه دا مهال افغانی لیکوالو هم له دې ستر حقیقت څخه ډډه ونه شوه کړای چه ادب باید یو هدف ولری او راهدف باید ولس وی هغه څه چه ژوند ښیی هغه باید په ادب کښی هم ځاي ولري. دولس حال باید دولس په ژبه خپله ولس ته وروښودل شی یا په بله ژبه باید چه ادب دولس دژوند دښودلو هنداره وګرځی. دهمدې مطلب دپوره کیدلو دپارو چه په افغانی ادب کښی دنورو ټولو زیار ونو ترڅنګه د کیسو دلیکلو دپاره هم هڅه څرګنده شوه ځکه څرنګه چه څرګنده ده په ادب کښی اوس دژوندانه دډول دښودلو او ترسیم ډیره ښه لاره کیسه ده .

البته په دې کښی څه شك نشته چه د کیسو ځینی مثالونه په افغانی ادب کښی دڅه پخوا مهال څخه هم ښودل کیدلاي شی اما په واضح اور یا لستی بڼه دا برخه هلته څرګنده ده چه په غربی ژبو پوه افغانی لیکوال هم میدان ته راوځی او په دې لاره کښی څوك چه سره له یوه لفظی کمزورتیاد اولیت حق لری هغه نور محمد تره کی دی. ځکه دی نه یوازی دوخت او مهال په لحاظ دمخه دی بلکه په افغانی لیکوالو کښی یوازینی لیکوال دی چه یی ادبی لاره یوازی همدا لاره ده او بس.

ددغه پیاوړی کیسه لیکونکی کیسی هم په متفرق او هم په مجلد ډول سره دهیواد په مطبوعاتو کښی خپری شوی دی چه مشهوریی د (بنګ مسافری) او (سپین) دی.

کوم لیکوال چه وروسته ترتره کی په دی لاره خوځیدلی او اثاریی په متفرق ډول سره په مطبوعاتو کښی خپاره شوی دی دهغوی آینده زښته روښانه او دپوره دډاډوړ بریښی امید دی چه دراتلونکی مهال دپاره به افغانی ادب داسمان ځلانده ستوری وی

(دافغانستان له کالنی ۳۸ — ۱۳۳۹ نه)

د کتابو برخه

محمد حسن کاکړ

د تاریخ په باره کښې

د نوی چاپ شوی کتاب نوم دی قطع بی لویه ده ۱۳۸ مخه لری مولف یې ښاغلی محمد حسن سایی دادب د پوهنځی لیسانسه او په پښتو ټولنه کښې د ادبیاتو د څانګې مدیر دی. کتاب په دولتی مطبعه کښې د ادبیاتو د پوهنځی له خوا چاپ شوی. دی تالیف په ۱۳۳۷ کال کښې د مطبوعاتو د ریاست د عبدالحی ګردیزی علمی جایزه وړی ده.

لکه چه له نامه نه یې ښکاری کتاب له تاریخ نه غږ یږی یعنی خپله تاریخ ښئی، حداو حدودی ور معلوموی، موضوعات یې ورتا کی، له فلسفی نه یی ګړ یږی، او هغه اصول وا ضح کوی کوم چه د تاریخ د لیکلو د پاره په کار یږی. لوی بحثونه یې د ا د ی:

د تاریخ لغوی خوا، د تاریخ د علم تعریف، تاریخ د پوهانو په نظر کښې، د پوها نو خبری، تاریخ کله او څنګه مینځ ته راغی؟؟ تار یخی دوری، د تار یخ اقسام، د تاریخ د تحول سیر، د تاریخ اصول یا د تاریخی وثایقو د تدقیق طرز، تاریخ څه شی دی؟؟ د تاریخ فلسفه، د تاریخ مناسبات له نورو علوموسره،

پوهان په دی پو هیږ ی چه ټول اجتماعی علوم د طبیعی علومو په څیر تر اوسه د قطعیت په بڼه ښایسته شوی نه دی یعنی هغومره چه طبیعی علوم مثبت ښکاری، اجتماعی علوم لا هغومره مثبت نه ښکاری. د دی مسئلی لوی علت دا دی چه په اجتماعی علومو کښې انسانی شعور دخل لری او طبیعی علوم یوازی ساده بیشعوره طبیعی فنا مناتر مطالعی لاندی نیسی. دا چه اجتماعی علوم

مؤلف

ډیر وروسته د فلسفی له پراخ ډګرنه راووتل او اوس په ځوانی او پخیدو کښې دی له همدی سببه دی. تاریخ هم چه د اجتماعی علومو یوه لویه څانګه د ه په دی وروستیو پیړیو یعنی د نولسمی پیړی په سر کښې په علومو کښې په حساب را غی او له نورو علومو سره په میدان کښې هسك شو. سره د دې هم د تاریخ په علمی توب او مخصوصاً د تاریخ په فلسفه کښې

تاریخ پوهان یوه خوله نـدی ، او بیلی بیلی لاری لری .

اصله خبره داده چه څه وخت بشر میدان ته راوتی تـاریـخ ورسره ملـگری شوی دی اوتاریخی پیښی واقع شوی دی خودومره ده چه علم اوتخنیك حقایق وروسته وسپړل او د وقوع اصلی علت یی ور معلوم کړاو پدی ډول یی تریوه حده داجتماعی پیښو څرنگوالی وښوده دلته پدی کتاب کښی د همد غو پیښو دسپړلو اوله هغو نه دقوانینو درا ایستلو موضوعات شته چه مولف په ډیر زیـار او زحمت سره راغونډی کړی اوپه یوه مجموعه کښی یی ځای کړی دی دتاریخ دبحث موضوع داسی ښیی « دتاریخ دبحث موضوع دهغو علتونو شرایطو اوعواملو تحقیقات اومطالعه ده چه دغه راز واقعات (تاریخی واقعات) تری زیږی نه پخپله واقعات اوهغه عوامل اوشرائط چه واقعات اوانقلابونه (لوی تحولات) زیږوی هغه دبشر تولید، دتولید طرز دتولید مناسبات کاراو د کار وسایل دی» دنوروله خولی وایی « کار، د کاروسایل ،تولید، دتولید طرز اودتولید مناسبات له مولده قواووسره پوره اړیکی لری، بشر کله چه دتولید طرز ته تغییر ور کوی دهغه ټول اجتماعی روابط اوړی: لاسی ژرنده دغلامی رژیم ، بادی ژرنده دملوك الطوائفی رژیم، اوبخاری ژرنده دسرمایه داری رژیم مینځ ته راولی » .

شته داسی ډیر پوهان چه اوس هم دتاریخی پیښو زیږو ونکی عامل له بشر او اجتماعی حیات نه په بل ځای کښی گوری ځکه نوددوی تاریخ ترفارمول اوقانون لاندی نشی را تلای اوتاریخ علم نه کیږی مگر کله چه وویل شی «تاریخ دبشری کړنو ریږنده اودمتضادواجتماعی طبقاتو د مبارزی محصول دی » دلته تاریخ بشرته راکوزشی اوپه انسان پوری تعلق پیدا کړی. څرنگه چه بشری فعالیتونه ځانله محرکات لری اومحرکات دانسان له ذهن نه د باندی له اجتماعی شرایطو اومحیطونو نه منبع اخلی ځکه نودپیښو اصلی علت بایدداجتماعی محیطونو په څرنگوالی کښی وپلټل شی . له کوم وخت نه چه بشر په فعالیت لاس پوری کړی تاریخی وقایع ورسره پیدا شوی البته هغه وخت کار اود کاروسایل لږاویوازی په ده پوری محدودوو وروسته چه کاراود کارپه طرزاو وسایلو کښی توپیر راغی ورسره تاریخی پیښی هم پیچلی شوی دی یی په علت ندی پوهیدلی داسی یی گمان کړی چه محدثان یې دده له اجتماع نه دباندی اوورادی ځکه یې دباد اوباران، فتح اوشکست لوړیده اوځوړیده ، او داسی نوروزیږ وونکی اوراوړونکی ارباب انواع گڼلی دی او دهغو قهر اوغضب اواراده اوفعل یی د خپلو وقایعو مسبب بللی دی مگرداهم دبشردپاره یوه مرحله وه اودی مجبور وچه طی یی کړی . دایی هم وکړل

اویا خوداسی هم پری و شول مګراوس یی ذهن پدی نه قانع کیږی ساینس اوتخنیك ته لاس اچوی اودهغو په رڼا کښی خپل اجتماعی حوادث سپړی زیږوونکی علتونه یی معلوموی ځکه نواوس خپل فقراومرض بیکاری اوناداری اوداسی نوراخلاقی اومعنوی ضعفونه اواجتماعی حادثی له بل چانه نه بولی له اجتماع نه یی ګڼی او دژوند په سیستم کښی یی لټوی مګرله اجتماعی پیښونه نتیجه اخستل کوم اسان کار ندی اوهرڅوك یی نه شی کولی «تاریخی حادثات هغه وخت ښه تعریف کیږی او ښه پوهیدل اوپیژندل کیدای شی چه دیوی حادثی ټول علتونه اوعوامل اوشرایط وپیژندل شی اودتاریخ علم هم هغه علم دی چه کاریی فقط د حادثاتو د علتونواو سببونو پلټل او میندل دی» له دې سره جوخت په نظر کښی دا راځی چه یومورخ باید دډیرو صفتونوخاوند وی ترڅو چه تاریخ په علمی توګه ولیکلی شی . یوازی و قایع کښل او د جنرالانو اوفاتحانو د اصل نسب اقسانی لیکل تاریخ ندې تاریخ کښل ځانته اصول اولاری لری . اویومورخ ته ښایی چه په ټولویی پوه وی یومورخ باید ارومرو داقدرت ولری چه تاریخی اسناد معنوی وی که مادی اومړی په ښه توګه تحلیل کړی یعنی دومره یی چاڼ کړی چه واقعی یی له غیرواقعی اونامربوطونه بیل کړی اوبیایی دغسی ترکیب اویوله بله سره وتړی چه دعلمی میتود په مرسته کلیات او نتائج تری وا یستلی شی .

برسیره پردی خپله مورخ باید دعلمی ذهنیت خاوند وی اوداقدرت ورسره وی چه په تاریخی پیښو کښی د علیت ارتباط قایم کړای شی .

هرمورخ باید په نظر کښې ولری چه :

«۲ــ هره جامعه په تحول کښی ده اوافاقی قوانین یی اداره کوی اوتنظیموی اودغه قوانین دساینس له نظره دپوهیدلو وړدی»

«۲ــ دیوی جامعی د مادی او د ژوندانه د شرائطو په انکشاف سره دهغی جامعی موسسات اوافکار سیاسی، اید یالوجیکی ، او کلتوری ظهور اوانکشاف کوی»

«۳ــ موسسات او افکار چه پدی ډول راپیدا کیږی په خپل نوبت کښی د جامعی په حیاتی اوضاع فعال اثر اچوی .» پدی اساس که وغواړو دیوی پیښی علت مینده کړو باید لاندی ټکو ته پوره پاملرنه ولرو :

«الف :ــ اجتماعی حادثات هغه وخت راوځی چه د حدوث حالات او شرایط یی په اجتماع کښی موجود شی یعنی پخپله علت را ووځی مثلا که وغواړو وچه دفرانسی لوې انقلاب مطالعه کړو باید لومړی دفرانسی په جامعه کښی اوضاع اوشرایط وګورو کوم چه ددی پیښی دظهوردپاره یی لارخلاصه کړه»

«ب : کله چه حادثات پیښ شول نتایج

اومعلول یی و ر وسته پیښیږي او دغه نتیجه دبشر د آرزواوارادی نه دباندی اومستقله وی »

« ج : — که څه هم شرایط او حالات د همیش د پاره یوراز نه وی یعنی تحول کوی او شرایط کټ مټ هغسی بیانه تکراریږی مگر داخبره سمه ده چه په ټولو وقایعو کښی د علیت ارتباط موجود اوپرله پسی وی . »

د دی ټولو خبروسره مورخ کیدل اسان ندی او د دی دپاره چه یومورخ (که چیری دغه صفتونه ولری) علمی او افاقی تاریخ ولیکی مجبوردی چه ډیر مشکلات ومنی . دتاریخ پاڼی راښیی چه رښتیانی مورخان په څومره کړاوونو اخته شوی او څومره عذابونه یی لیدلی دی دا مشکل خصوصاً په هغو جامعو کښی زیات دی چه د ذهن له پلوه بیرته پاتی او نارسیدی وی ځکه چه په دا سی ټولنو کښی ملی ، نژادي ، مذهبی ، سیاسی ، لسانی اوطبقاتی بندیزونه ډیر اوسخت وی او یومتفکر فرد او مورخ په خپل قوی چوکاټ زبېښل غواړی اودی ته یی نه پریږدی چه افاقی اوعلمی تحقیق وکړی اوحادثات لکه څنگه چه وی هغسی تشریح کړی اونتایج تری وباسی همدغه سبب دی چه بیچاره تاریخ تراوسه دیوه اودبل دګټی اومقام مفسر گرزیدلی اونورو استخدام کړی دی «پدی ډول چه کله دساعت تیری اوغم غلطی یوه وسیله وگڼل شو او کله دسیاسی او مذهبی قدرتونو د پروپاگند اله ، کله دخپلو ولسونو دبیرولو او مدغم کولو دپاره ، کله دانسانانو دبدیعی حس دخوځولو په منظور و لیکل شو او بیا کله د تخیل او حافظی د تقویی د پاره بالاخره دتاریخی زمانی په ترڅ کښی تاریخ کله دبشری سترو اووتلیو انسانانو د شخصی ارادی زیږنده وگڼل شواو کله دمیتا فزیکی قواوو دمطلقی ارادی مظهر .. »

زمونږ په جامعه کښی تاریخ کښل لا تراوسه په ځوانی کښی دی . درسته ده چه ښایسته زیات آثار به کښل شوی او ډیر وقایع به ثبت شوی وی مگر دتحقیق لاری اومیتودونه یی علمی نه دی او محرکات یی انفسی اوعندی رنگ لری یوخوداچه په استعماري دوران کښی زیاتره خارجی مؤرخانواومخصوصاً انگریزانو لیکنی کړی دوی که څه هم پوهان به وو مگر یو خو دا فغانی جامعی په تل کښی نه شوای ننوتی او یوازی له بهرنی سطح نه یی مواد غونډ کړی او بله داچه د دوی لیکنی د تاریخ دپاره نه بلکه دنورو دپاره دا فغانستان دمعرفت په منظور وی . تر پرونه پوری یعنی ترهغه وخته پوری چه انگریزان په هند کښی وو انگریزی مورخان زیاتره د ایست انډیا کمپنی جنرالان اونو کران وو مگر اوس دوی اوداسې نور افغانستان ته زیاتره په دی نظر

گو ر ی چـه د ا ملك د سوشلستی هیـوا دو همسایه د ی .

ددی ځای په لیکنو کښې تر اوسه داسی اثر نه دی وتلی چه ارزښت بی زیات وی او دهغه میتود لهمخی کښل شوی وی چه کا ملاً افاقی وی او دتاریخ دعلمی میتود قول ا صول پری تطبیق شوی وی همدغه سبب دی چه دلته د اصلی مورخ ا و علمی تا ریـخ پېژ نـد نـه گرانه ده . ددی خبری ښکاره ثبوت دادی چه هغه چاته د مورخ لقب ور کړ شوی د ی چه د کوه نور د الما س لرل یې بد شگو م گڼلی دی نودا کتاب چه په خپل نوع کښې دلته نظیر نه لری په ډیر ښه وخت کښې له چاپ نه وتلی دی . که څوك په دی پسی وی چه د افغا نی جامعی تاریخی حادثات وایکی او علمی میتود او اصول پری تطبیق کړی مجبور دی چه په پوره غور او دقت یې ولولی ا وله محتویا تو نه یې ځا ن خبر کړی ځکه چه په دی کتاب کښې ددی پوښتنی د ایضاح دپاره «چا څه و کړل ،چیرته کله ،اوولی ؟؟؟» پوره کوښښ شوی دی

مونږ باور لرو چه داقوی اثر به په ورو ستیو تاریخی څیړنو کښې ښکاره رول ولری ا و مخصوصاً دتاریخ شاگردانو ته به چه غواړی افغانستا ن علماً په تاریخ کښې و گور ی او لدی لار ی تاریخی حادثات وسپړی او نتایج تری وباسی پور ه لارښوونکی وی !ددی علمی اثر په تالیف اوچاپ کښې مونږ ځلمی مولف ښاغلی محمدحسن سایی او ذ ادب پوهنځی ته مبار کی و ر کوو او له ښاغلی مولف نه هیله لرو چه خپل علمی تحقیقات جاری وساتی او خپل گټور آ ثار جامعی ته وړاندې کړ ی .

دافغانستان کالنۍ

۱۳۳۹-۳۸

سبزنه کالنۍ دښاغلی غلام محی الدین ایوبی په مسئولیت دمطبوعاتو له مرکزنه چاپ شوې راوتلی ده. دا کالنۍ ۶۵۸ مخه اولویه قطع لری او د نور و کلونو په شان دګران هېواد د یوه کال فعالیتونه په کښې ښوول شوی دی. برسیره پردې دافغانستان دتاریخ، ثقافت اوداسی نورو دمعرفی په منظور یوخودرنې او ګټورې مقالی هم لری دښاغلی ایوبی زیار او سلیقی سبز نۍ کالنۍ ته ښه ښه او مغز ور کړی ښکلی او په زړه پوری شوی ده: طباعتی تیر و تنې یې له هرو خت نه لیږی دی. زړه خو ځو ونکی منظرې یې دهرسړی بدیعی حس پاروی. یوه نوی ښیګڼه یې لا داده چه د پښتو برخه په کښې ادا شوې ده کابل مجلې په پروسبزنۍ کالنۍ یوخه لیکلی و؛ دپښتو په برخه کښې یی لا ګله او تبصره هم کړې وه. ځکه نو اوس ډیره خوښی کوی چه وا کمنو یې نیمګړ تیاته پام کړې دی. هر اجتماعی کار تبصری او نظریې ته اړتیالری، په یو نظر څه نه کیږی؛ دنورو ژور او اصلاحی نظریات ار و مر و ګټه لری. داجتماعی چارو دپرمختګ یومهم رمز په همدې کښې دی. دایو ډیرمسلم حقیقت دی او دا کالنۍ یی یو کوچنی مثال کیدای شی.

ښاغلی ایوبی

دمجلی اداره په دې وسیله د کالنۍ ټولو وا کمنو او مخصوصاً ښاغلی او ځلمی ایوبی ته مبارکی ور کوی اود ګران هیواد دثقافتی اوعلمی سطح دلو ړولو او دهیواد درښتنی معرفی کولو په برخه کښې ددوی پوره بری غواړی او برسیره پردې ددوی دزیار دقدر کولو په منظور د کالنۍ یوه مقاله - معاصرافغانی ادب (پښتو برخه) دهمدی ګڼی په (۴۲) مخ کښې د علاقمنو دزیاتی استفادی دپاره بیا چاپوی اولوستونکو ته یی دلوستلو سپارښتنه کوی. (اداره)

دا ړم او مړی ورځ د ښووونکی ورځ ده په دی ورځ کښی چه د مجلی وروستی مخونه لاچاپ شوی نه دی، د ښووونکی په درناوې د هیواد په ټولو عرفانی مرکزونو کښی مجلسونه وشول او د معلم او علم مقام په کښی وستایل شو. د پوهنی وزارت په دی مناسبت یوه لویه غونډه وکړه چه د مرکز او اطراف پوهانو او ښووونکو په کښی ګډون کړی و و په دی غونډه کښی د اعلیحضرت همایونی پیغام د معلم په نامه واوستل شو او مستحقو ښووونکو ته جوایزور کړل شول، برسیره پردی مقالی هم په کښی واورولی شوی لاندنی مقاله په همدغه مناسبت د ښاغلی الفت د پښتو ټولنی د رئیس له خوا واوستل شوه چه دادی مونږ یی د ګرانو لوستونکو د استفادی د پاره دلته خپروو. اداره

الفت

میرمنو، پیغلو او ښاغلو!

نن دلته د معلم د ورځی په مناسبت راغونډ شوی یو او غواړو چه پدغه وسیله د معلم د کار او زیار لمانځنه وکړو. ښووونکی او معلم ته په احترام کتل او د هغه قدر او حق پیژندل د علم او پوهی لویه قدردانی ده.

څومره چه د علم او پوهی مقام لوړ دی هغومره د معلمی وظیفه هم مقدسه ده او په هماغه اندازه د معلم درجه او مرتبه هم لوړه ده. یو ملت چه هر څومره د علم او پوهی خاوند وی په هماغه اندازه د علم او علماوو قدر کوی او په درانه نظر ورته ګوری.

عالم که هر څومره لوی او ستر حق لری بیا هم د معلم حق له عالم نه ډیر دی هغه عالم چه په تجارت یا زراعت مشغول وی او هغه عالم چه د معلمی مقدسه وظیفه یی په غاړه ده د شغل او کار په لحاظ ډیر فرق لری.

علم لرل هم فضیلت دی مګر علم نو روته ورکول سربیره په فضیلت ډیر لوی سخاوت هم دی هغه څه چه ښووونکی او معلم یی نوروته ورکوی له هرې ورکړی نه یی ارزښت او درنښت ډیر دی.

راشی ء! چه د تعلیم او ښودنی په باب ښه فکر وکړو او وګورو چه دغه سلسله له کوم ځایه او له چا نه شروع شویده د علم رڼا له کومی خوا راغله او مونږ ته څنګه را ورسیده؟؟

د دی پوښتنی په ځواب کښی بـه دپاک خدای مقدس کتاب تـه رجوع وکړ وا و دا مبارك ایاتونه بـه د زړه په غوږونو واورو الرحمن علم القران ـ خلق الانسان علمه البیان ـ علم بالقلم علم الانسان مالم یعلم ـ وعلم آدم الاسماء کلها ـ وعلمناه من لدنا علما .

ددی آیاتونو پـه رڼا کښی سړی پوهیدلی شی چه ښودل او پوهول خدایی او اسمانی کار دی او ز مونږ حقیقی ښوونکی هغـه لوی ذات دی چه انسان یی دعلم او پوهی په ور کـړه د کرامت خاوند کړی او دخپل خلیفه نوم یی پری ایښی دی.

مونږ باید دا ومنو چه رحمانی تعلیمونـه د خدای له لوري شروع شویدی او همدغـه الهی تعلیم پـه انسان کښی دعلم او پوهی رڼا پیدا کړیده.

دا رڼا هر وخت د خـدای د استاځو او پیغمبرانو په وسیله پـه عالم کښی خپره شویده او بیا علماوو د دغی رڼا دساتلو او دخلکو د پوهولو وظیفه په غاړه اخستی ده .

هغه علمی نوابغ او ستر فیلسوفان لکه سقراط افلاتون او ارستو چه وخت په وخت دنیا ته راغلی دی د معلمی وظیفه یی په غاړه وه او همدغه کاریی کاوه چه ځینی داول معلم او ثانی معلم په نامه یادشویدی د دنیا لوی لوی مؤلفین او سترلیکوالان په حقیقت کښی دبشری ټولنو ښووونکی دی چه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول دمعلمی وظیفه اجرا کوی.

عصر او زمانه پخپله هم لکه ښووونکی ډیر څه خلقو ته ښیی او دنیا په حقیقت کښی بولوی پوهنتون دی چه د عقل او تجربی معمر استاذان پکښی خلقو ته درس ور کوی او د ژوند لاری چاری ورښیی .

دا اوسنی نړی چه د اختراعاتو او اکتشافاتو لوړ حد ته رسیدلی ده د هغی رڼا برکت دی چه دښووونکو په وسیله یی ورځ په ورځ تجلی زیاته شویده او له لویو پوهنتونو څخه یی ستر پوهان را ایستلی دی .

په دی کښی هیڅ شک نشته چه د دی عصر مادی او معنوی ترقیات دعلم او پوهی په رڼا کښی لاس ته راغلی دی او علم او پوهه هغه لوی خیر او فیض دی چه دښووونکو او معلمانو له خوا خلقو ته رسیږی .

هغه څه چه د ښوونځیو ، لیسو او پوهنځیو محترم استاذان او معلمان یـی خپلو شاگردانو ته ور کوی څوک یی قیمت نه شی ادا کولی او په دغسی ستاینه او لمانځنه د دوی حق نه ادا کیږی د اراز مجالس او د عقیدت اظهارات د دی دپاره نه دی چه ښووونکی او استاذان ورته څه احتیاج لری یا دغه راز ستاینی د دوی په سرگرمی او فعالیت کښی مؤثر واقع کیږی مونږ باورولرو چه د دوی مقام تر دی ډیر لوړ دی او دوی له هر چا نه دخپل کار او

زیار په اهمیت او ستر توب ډیرښه پوهیږی .
هغه عشق او علاقه چه علماء او پوهان یی
د علم له خدمت او علمی خدمت سره لری
د چا په قدر دانی یا بی اعتنا یی نه زیاتیږی
او نه کمیږی .

زمونږ د اوینا ګانی خاص د دی د پاره
دی چه د علم او پوهی خاوندانو ته په
تعظیم او احترام سر ټیټ کړو او د دغه
مهم خدمت په مقابله کښی د نا پوهانو په
شان بی اعتناء پاتی نه شو .

مونږ په دې وسیله خپل اخلاص او مینه
ښاغلو ښوونکو ته وړاندی کوو او دا
ښیو چه مونږ معلم او معلمی ته په څه نظر ګورو
او څه انتظار ورته لرو .

مونږ غواړو دا څرګنده کړو چه زمونږ
دامید سترګی د دوی خواته دی او د دوی
د کار او زیار محصول ته ډیری هیلی او اسرې لرو .

مونږ ښوونځی او پوهنځی د سړیو جوړولو
فابریکه ګڼو او ګورو چه له دغی لویی کارخانی
نه څه راوزی .

زمونږ آرزو یوازی دا نه ده چه محدود
ذهنونه له یو څه کتابی معلومانو ډک شی بلکه
هیله لرو چه خراب ذهنیتونه بدل شی او په
اذهانو کښی انکشاف پیدا شی یوازی بینایی
پیدا کول نه غواړو بلکه د نظر له زیاتوالی
سره د نظر وسعت او عالی هدف ته یی متوجه
کول هم غواړو .

د وطن مینه ـ د ملیت احساس ـ د ازادی
عشق ـ د حق پالنه او د خیر رسولو جذبه باید
د تعلیم او تربیت غایه او نتیجه وی .

مونږ د ښودنی او پوهنی اغیزه یوازی په
خبرو او وینا کښی کافی نه ګڼو په کردار او عمل
او د اجتماعی تحول په هنداره کښی هم د دغی
رڼا انعکاس ته ګورو .

مونږ څار کوو چه ښوونځیو او پوهنځیونه
د باندی په کلی کور کښی د تعلیم اغیز څومره
او څنګه ده ـ دا دی هغه اساسی ټکی چه مونږ یی
له تعلیم او معلم نه انتظار لرو او پدی ورځ یی
یادونه په کار ده .

په آخره کښی وایم :

د ښوونکی ورځ دی ځلنده مدام وې
د پوهنی لوړ بیرغ ته دی سلام وې

Orien

2 FEB 17
Copy 0 1961

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه